M.A.

For The month of Saratan (23rd June, 45)

1324.

کابل

وئې وایاست :

۱ : آیا د ژبی واکی دچا په لاس دی دعوامو که دخوا صو ؟

۲ : دکار سره علاقه ۳ : دکوم شاعر شعر موخوښ دی ؟

٤ : اوسنی ادب ٥ : دادبیاتو دمورخ دپاره اساسی مواد

٦ - تېره گڼه

هغه

چه گټل خورول بخښل کاځوان هغه — چه تو ره لر ی د تو ر ی خا ن هغه

کان دلعل د یاقو ت د گو هر څه د ی — چه احسان ترې پیدا کیږی کان هغه

چه ئې ته په گیډ ه و خورې هبطه شی — د مجلس سره چه خوړ شی خوان هغه

که د ما ل دی که دملك دی که دلیچو — چه توا ن دچا پکار شی توان هغه

په تما مه شپهٔ په ورځ په میاشتی کال کښې — چه دخدای په یادو درومی آن هغه

چه دی څوك دوړاندی ورو ستوځی داڅه شی — په تنها وجود چه شان دی شان هغه

ونو ر چاوته وران مه وایه «خوشحا له»

چه په قو ل عهد ور ان شو ور ان هغه

(مرحوم خوشحال خان خټك)

(۱۵) کال سرطان ۱۳۲٤ (٤) گ.ه

کابل

ادبی، اجتماعی، تاریخی

میاشتنۍ مصوره مجله

چلوونکی : گل پاچا «الفت» دپښتو ټولنې مبصر
او دصحافت مدیر
پته : پښتو ټولنه ، دابن سینا واټ
تلگرافی پته : کابل : پښتوټولنه
ټول لیکونه ع ، ص عبدالحی خان « حبیبی » دپښتو ټولنې کفیل او د ادبیاتو دفاکولتې
رئیس ته کېږی

اشتراك

کابل	۲٤	افغانی
دننه مینه	۲٦	«
دباندی :	۱	سترلنگ پوند
دښوونځیوزده کوونکی ته	۱۲	افغانی

ددې ګڼې لیکونکی

لیك	لیکونکی	مخ
آیا د ژبې واکی دچا په لاس دی؟	ښاغلی «حبیبی»	۱
له کار سره علاقه	« «الفت»	٤
اې هلمنده	« «حبیبی»	۷
څلوریزی	مرحوم مخلص	۸
ترکومه؟	ښاغلی تور عبدالجلیل	۹
غزل	« « «	«
ردالعجز علی الصدر صنعت	له طلوع افغان څخه	«
دالمربع صنعت	« « «	۱۰
دمینی لمبه	« « «	«
مینه	« « «	«
څلوریزی	ښاغلی عبدالعزیز	۱۱
څوك چه زړه کښې رحم نلری صیادشی	« «الفت»	۱۲
دمهجور ږغ	« «خواخوږی»	«
ای دشکلالیونیانو	« «پرهیز»	۱۳
زه تاته ګورم	« «پروانه»	«
دبادام شاخله	د « «بینوا» ترجمه	۱٤
دفتوحاتو هوس	« « «نعیمی» «	۱۵
ملکه اونو	« « «نوابی» «	«
زړه غواړم	« « «روښان» «	۱٦
دکوم شاعر شعر موخوښ دی	« «حبیبی»	۱۷
وینایا خطابه	« «بینوا»	۱۹
دادبیاتو دمورخ دپاره اساسی مواد	« «تره کی»	۲۳
دآلی نوم	« «رشتین»	۲٤
ژبنی پوهنی	د « «رشتیا» ترجمه	۲٦
داعلاناول خصوصیات	« «مفتون» «	۲۸
دکابل ۱۷۱ ګڼه	ښاغلی «زه»	۳۰
تېره ګڼه	« کجوروال	۳۳
ریډیم	د « «مفتون»	۳۷
ملاعبدالرحمن دزمینداور	« «حبیبی»	۳۹
طالب	« «	٤۰
دافغانستان پخوانی تاریخ	« «کهزاد»	٤۱
فداکاری	د « «نظامی» ترجمه	٤۲
دکوموشیانو یوځای خوړل		
دخطر احتمال لری	دصحافت څانګه «	٤۵
دائی قباله په چائی منی		٤٦
ملی هنداره	ښاغلی «نوری»	٤۷

عکس (۱) قطعه

د افغانی مطبوعاتی هیئت اعضا په ډیلی کښې چه د جناب سر سلطان احمد د هند د مطبوعاتو د وزیر له خوا د غرمې د وډۍ ته بللی شویدی .



له کیڼی خوا: مستر (بازمن) د هند د مطبوعاتو د وزارت معاون ، ښاغلی سید قاسم خان رښتیا د افغانستان د مطبوعاتو د مستقل ریاست معاون، سر سلطان احمد د هند د مطبوعاتو وزیر ، د هند د جنوب یو وزیر (د سر سلطان احمد شخصی مېلمه) کپتان (هوس) د هند د مطبوعاتو د وزارت د معاون نایب، مستر (شرمه) د هند د اطلاعاتو د شعبی عضو او د هیئت مهماندار، مستر حمید د کل هند د رادیو د عمومی مدیر کفیل ، مستر (تاریه) د هند د مطبوعاتو د وزارت د معاون نایب ، ښاغلی عبدالحی خان حبیبی د افغانستان د ادبیاتو د فاکولتي رئیس او د پښتو ټولنی د عمومی مدیریت کفیل ، سر (اولاف کیرو) د هند د خارجه وزارت کفیل، ښاغلی عبدالرحمن خان پژواك د افغانستان د نشریاتو عمومی مدیر (هغه څوك چه څېره ئې نه لیدل کیږی) ، کرنیل (ویلر) د هند د نشریاتو د اداری رئیس .

ژبنۍ څېړنې :

ایا د ژبې واګې د چا په لاس دی ؟

د عوامو که د خواصو ؟

ښاغلی حبیبی :

په ژبنیو مباحثو کښې دا خبره ډېره د څېړنې وړده ، او ډېر ځله هم د پلټنې او لټونې په سلسله کښې د ژبو د کار کوونکو مخې ته راځي ، زمانه په یاد دی ، چه څو کاله د مخه د ژبې د پوهانو په ټولنه کښې دا بحث په ډېره ګرمي او دلچسپي سره کېده ، هر چا خپله عقیده ښکاره کوله ، ځینې طرفدار وه ، چه د ژبې د سیر واګې د خواصو او عالمانو او پوهانو په لاس کښې دی ، یو څو تنو هم ویل ، چه یه ، دا کار د عوامو او وګړیو دی .

پرون مایوه خارجي مجله کتله ، بیا دا بحث مخې ته راغی ، یوه مشهور لیکوال پر دې خبره بحث کړی دی ، دی وایي : چه د ژبې ویونکی درې ډلې دی ، لومړی ډله خواص او علماء او پوهان دی چه ژبه د خپل فکر تابع کوي دوهمه ډله اوسطه طبقه ده ، دریمه ډله عوام دی چه فکر ئې د ژبې تابع دی ، دا لیکوال عقیده لري ، چه د ژبې واګې تل د خواصو په لاس کښې وي ، په فارسي کښې د حافظ او سعدي نوم هیڅوک نشي هېرولای ، او د دې ژبې پیشوایان دوی دی .

عوام خو د ژبې په سیر کښې کوم اهمیت نلري ، او دوهمه طبقه هم لکه ناقص طبیبان داسې دی ، فقط هغه لومړی او خاصه ډله ده ، چه د ژبې سرنوشت معین کوي ! ښائي چه هر څوک په دې خصوص کښې مخصوصه عقیده ولري ، او له ځانه سره د خپلې عقیدې لپاره دلایل او براهین هم ولري ، خوزه دلته لومړی د دې خبرې په شاوخوا کښې څه تبصره لیکم ، او بیانو خپله عقیده ښکاره کوم .

په لوی سر کښې خو ژبه لکه د دنیا نور شیان ، او د انساني ژوندانه نور لوازم یو اجتماعي مخلوق دی چه د بشري ژوندانه ټول اجتماعي قوانین پر تطبیق کېږي ، نو چه سړی په لومړنی نظر وګوري ، اجتماع پر ژبې حکمراني کوي ، او ځکه چه د اجتماع افراد اکثر وګړي او عوام وي ، نو ګویا پر ژبه حکمرانه او غالبه ډله هم عوام دی !

مګر پسله لږ څه غوره دا خبره هم ښکاره کېږي ، چه د اجتماعي ژوندون ډېر مواد او لوازم داسې هم دی چه پر هغو باندې یوه خاصه ډله حکومت کوي ، او تر خپل تأثیر لاندې ئې راولي ، او ډېر شیان په خواصو پورې مخصوص دی ، او عوام نشي کولای ، چه پر هغو باندې خپله اغېزه په ښکاره او څرګند ډول خپره کړي .

علم او سائنس او الهیات او هغه معلومات چه دمادې له حده څخه لوړ دی ، عموماً د خواصو د افکارو نتیجې دی ، او دا ټول شیان مستقیماً د بشر په خاصه طبقه اړه لري ، او د بشر فکري نوابغ دی ، چه د غه ښېګړي ئې ډېرې کړي ، او هم ئې ترمونږه پورې رارسولي دی .

بالعکس ډېر دودونه او اجتماعي مراسم او د بشري حیات لوازم او عوایددی ، چه مخصوصاً د عوامو د ډلې تر اثر لاندې پیدا کېږي ، او پرورښت کوي ، او د مثبتو مبادیو پر ځای درېږي ، او ډېر عمر ژوندون لري .

هغه وخت چه مونږ د بشر د ژبو تاریخ وګورو ، او په تحولاتو کښې دقیق شو ، نو دا هم راته ښکاره کېږي ، چه ژبې خو اصلاً د جامعې مال دی ، او یوه جامعه په پېړیو پېړیو او ږدو زمانو کښې ژبې پیدا کوي او له یوه حاله ئې بل حال ته اړوي ، د خپلو احتیاجاتو سره توسیع ورکوي ، نوي الفاظ او مواد پکښې ګډوي . مګر سره د دغه هم سړی داسې نشي ویلای چه د جامعې خاصه طبقه او علماء او پوهانو په دې کار کښې هیڅ

برخه نلری ، اودژبو په حیاتی چارو کښې ددوی لاس کوم کارنشی کولای .

دهری ژبی دژوندانه دتاریخ پاڼی چه وکتلی شی ، ډېری ئې لکه په عوامو چه اړه لری ، یوه غوره برخه ئې په خواصو پوری هم مربوطه ده ، عوام خوژبه جوړوی ، پراخوی ئې ، هری خواته ئې سره کشوی ، مگر خواص هم په ژبه کښې مهم مواد گډوی ، یوشاعر کولای شی ، چه د عوامو له ژبنیو موادو څخه بېل نورنوی مواد او الفاظ په ژبه کښې موجود کړی ، اوداسی ئې پکښې حل او مزج کړی ، چه عوام ئې هم ورسره ومنی ، او د دوی ادبی سلطې ته غاړه کښېږدی !

نواوس مونږ له دغوابحاثو څخه دانتیجه اخیستلای شو ، چه ژبه یوازی د عوامو په لاس کښې هم نده ، بلکه خواص هم غوره برخه پکښې لری ، او هروخت دژبو په سرنوشت لوبی کوی .

په حقیقت کښې داخبره دژبو په ژوندانه کښې ډېره مهمه ده چه باید ژبه فقط دیوې طبقې تر اثر لاندی نه وی ، بلکه په داسی ډول وروزله شی ، چه له دواړو ډلو څخه استفاده وکولای شی .

زه غواړم ، چه په دې لیک کښې خپلو ښاغلیو لوستونکیو ته داحقیقت لیکم ، چه پرژبی باندی ددغو دواړو ډلو حکمرانی په مساوی ډول ده ، او که دیوې ژبی واگی فقط یوې ډلی ته ورو سپارلی شی ، نو به هغه ژبه ډېر خپل مزایا اوښېگری بایلی .

په لوی سر کښې که غور وکړو ، خواص هم دټولنی او وگړیو اجزاء اوغړی دی ، خواص چه ژبه زده کوی ، په عوام و او وگړیو کښې زده کوی ، او ددوی دژبی لو مړنی تعلیم هم په وگړیو کښې وی ، نوگویا دژبی دزدکړی اصلی محیط هم دوگړیو چاپېر دی ، وروسته چه یو انسان دخواصو سره ناسته ولاړه وکړی ، اودخواصو په محیط گډشی ، او ددوی افکار او عقاید زده کړی ، ددوی په ژبه ژبورسی ، بیانو ددوی په رنگ رنگېږی ، اودژبی هغه دافادې طرز زده کوی ، کوم چه دخواصو په محیط پوری اړه لری ، نوباید چه دهری ژبی لپاره دروزنی دوه طبیعی محیطونه وټاکو :

لومړی دوگړیو چاپېر ، چه هر څوك ژبه هلته زده کوی ، او الهام لخنی اخلی ، ټول خواص یعنی پوهان او ادباء او علماء لومړی له دغه محیطه استفاده کوی ، یوه کورنی چه هرڅوئی خواص هم وی ، دکوچنی دمحیط ، خبری او ژبه ئې دعوامو خواته ورته وی ! نوگویا دژبی اصلی اوحقیقی پرورشگاه هم دوگړیو غېږ ده ، او دامحیط ژبی ته د مور په دود تربیه ورکوی .

دوهم محیط د خواصو او پوهانو چاپېر دی ، چه ژبه له لومړنی مرحلې څخه ورته راځی ، په دې محیط کښې ژبه خپل طبیعی جمال لاپسی ښایسته کوی ، او رنگارنگ زیورونه او گېڼې په پوری کېږی ، ښایست اوښکلی توب ئې زیاتېږی ، او هغه خپله طبیعی څېره ئې داسی رنگ او رونق مومی ، چه له ډېری ښکلا نه پېژانده کېږی !

نو په دې ډول : عوام دژبی اصلی پالونکی دی ، مگر خواص ئې ښایسته کوونکی او په ښکلا اوزیبائی ښکلوونکی دی ، چه دژبی لپاره هم دواړی ډلی لازمی دی .

یوحسن اومخ که هرڅوئې دښه کړه وړه خاوند وی خوچه د آرایش لاس نه وی ورسره ملگری خبرن او ناولی پاته وی ښه نه ایسې او کتونکی ته ئې کومه دلچسپی هم نه وی . کوم وخت چه هغه طبیعی حسن په گېڼه او مناسبه غاړه ښکلی کړسی طرا وت اوښکلا ئې غبر گېږی او د کتونکیو ستر گې نه په مړیږی .

په دې ډول دژبی دطبیعی حسن اوښکلا دپرولو او ښه دلچسپ کولو لپاره دخواصو دلاس مشاطگی لازمه ده . اوهمدوی دی ، چه ددې ښکلی ناوی په غاړه کښې دښکلا ښې گېڼې وراچوی ، اوپخپله استادی اومهارت ئې لا ښه پسې ښکلې کوی .

ډېرزله داسی هم پېښېږی چه دیوه طبیعی حسن په ښایسته کولو کښې له سلیقې څخه کار وانخیستل شی اوناولی گېڼې بې رونقه اوبې یوه خاصی سلیقی پرمخ اوتندی باندی کتار کړی شی دلته دذوق خاوندان

دافیصله کولای شی چه تر دغی کښې بې کښې والی ښه دی اوداناوړه تحلیه بې کاره ده د لیدونکی تره ځنی کښې اوتر دغی کښې هغه طبیعی تش جمال ښه دی ،

دژبی دآ رایش په مرحله کښې هم کټ مټ دغه خبره واقع کیږی دخو اصو او پوها نو او ادیبانو دنقش ونگار او کښې ایښوولو ځای دژبی طبیعی اوعامی ښیره ده که دوی دذوق خاوندان وی او په مناسب اووړ ډول ئې مخ په ادبی کښو ښکلې کړی خو ډیره ښه! اما که داکښه په بې سلیقگی اوبی ذوقی پر مخ کښیښوله شی یادونی ډیری کښې پرمخ ورکوته کړه شی ،چه بالکل ئې مخ په ټوی، اوطبیعی جمال ئې ورك شی، دلته نوسړی ویلای شی چه داښه کارنه دی اومثلاً دمیرزا مهدی درهٔ نادره به ځینې جوړه شی، یابه دپارسی ژبی دتاریخ وصاف انشاء پردازی شی چه ډیره مکر وهه ده با لعکس که دحافظ غوندی شعر یادسعدی غوندی رو انه اوسلیسه انشاء وی هر څوك ئې خو ښوی ځکه چه دوی ژبه له عامی موقف څخه ډیره نه لیری کوی او ډیری مناسبې کښې ئې پرمخ وراښې اوطبیعی حسن ئې ورغبرگ کړی دی .

په پښتو کښې هم باید مو نږ دغسې و کړو ژبه باید چه دعمومی محاوری اواداء له پلوه کرغیړنه نکړو البته لیکوال اونویسندگان ئې دمناسبی کښې ایښودلو حق لری یو سړی که څه هم ډیر زیر دست لیکوال اوعالم وی داسی نسی کولای چه له ځانه ژبه جوړه کړی هو ښایسته کوی به ئې .

دژبی په ښایسته کولو کښې باید هر وخت د اخبره دلیکوالو په فکر کښې وی چه دژبې طبیعی جمال ورك نشی، او هم بار دتصرفات په ژبه کښې ونکړی ډیر ځله داسی لیدل کیږی چه یو لیکو ال دخپل فکر د قالب جوړولو لپاره ،په ژبه کښې داسی مواد زیا توی چه هغه مناسب نه وی .

زمایه خیال خوبهترین لیکوال هغه دی ،چه ژبه یه نا مناسب ډول ښایسته نکړی اوترخپل فکرئې قربانه نکړی اویه ناوړه توگه یه ژبه کښې تصرف نا روا وبولی ځکه چه داحق ډیرولویو پوهانو او ادیبا نوته هم نه ورکول کیږی ،چه دوی یه ژبه کښې ناوړه شیان را داخل کړی ،ښه می یه یاددی چه یووخت دمرحوم علامه اقبال یو کتاب(اسرار ورموز) خپور شوی و هلته یو بیت و .

زآسمان آ بگون یم می چکد
من ز جو باریکتر می سازمش

یوه بل عالم اعتراض کړی و چه له ولی سره باریك دپارسی اصطلاح نده علامهٔ اقبال دصایب دابیت دسند په ډول ورته راوړی و:

نازکتر است از رگ جان گفتگوی من
باریك شد محیط چو آمد بجوی من

رښتیا هم داده . چه په لومړی سر کښې (باریك) (جوی) سره کوم مناسبت نلری، مگر ورو سته چه سړی دقیق شی دپارسی په عامه محاوره کښې باریك د اوبو صفت راغلی دی ، لکه (باریکاب) چه (باریك آب)و مقصدمی دادی،چه لویو فضلاو ته چه دسند خاوندان هم وی له عمومی محاوری څخه تجاوز روا ندی ، او له ځانه په ژبهٔ کښې یوشی داخلول مناسب نه گڼی !

نوداسی ښکاری چه دژبی واگی یوازی خواصو ته نه سپارلی کیږی، بلکه عوام اوددوی محاوره هم لوی حق یکښې لری اونه ښائي چه ژبه فقط دیوی ډلی په اختیار کښې وی ځکه چه یوازی عوام هم نسې کولای چه دژبی چاری ترسره ورسوی ،

نو نتیجه داسی ده: چه باید عوام اوخواص دواړه دژبی په چارو کښې لاس ولری او هرکله چه خواص څه کوی دعوامو خواهیځکله هیره نکړی .



له کارسره علاقه

گل پاچا الفت:

زمونږ په رسمی دوایرو کښې ښائي چه دا تکی (له کار سره علاقه) ډېر واوری او همدغه شی دیوه مامور ریه پیشرفت اوسوانحو کښې ډېر اهمیت ولری که واړه دوایر له نظره لیری کړو او د مملکت کارونه په مجموعی ډول په نظر کښې ونیسو او وګورو چه دغه کارونه څنګه او په څه راز کېږی؟ ښه دی او که خراب؟ بیاهم دا تکی (له کارسره علاقه) تر ستر ګو ستر ګو کېږی او دسړی په زړه کښې دا فکر اچوی چه ترڅو مامورین او هغه کسان چه رسمی او اجتماعی وظایف لری له کارسره علاقه پیدا نکړی کارونه نه ښه کېږی او هیڅ نه کېږی دا خبره ما په وارو وارو ستا او دبل له خولی اور یدلی او هر څوك چه لږ او ډېر داجتماعی درد اظهار کوی همدغه ځای دخارښت ځای کښې او ګروی ئې که رښتیا ووایم تشخیص بدتشخیص نه دی خلقو مرض راله پیژندلی دی مګر په علاج کښې نه دی ګرېدلی مایه یوه نیم اجتماعی کتاب کښې هم لیدلی یا دځینو په تعبیر په کتابو کښې ئې هم راوړی دی چه له کار سره علاقه خو را ضروری ده او همدغه علاقه ددی باعث کېږی چه د سړي ټول فکر دکار خواته تمرکز پیدا کړي او همدغه دفکر تمرکز دکارونو داصلاح داشخاصو دد قت اوداسی نورو فضایلو سبب ګرزي هرڅومره چه له یوه کارسره علاقه زیاتیږي هغومره سړی کوښښ کوي چه هغه کار پخپله موقع کښې په صحیح ډول اجراشی او هیڅ راز نقص یکښې پاته نشی که ددې خبرې دلیل هم غواړي څه ګرانه خبره نه ده که په علمی فورمو اونو ستاسی قناعت لږ څه ګران وي په او لسی خبر وهم ستاسی قانع کول امکان لری. کله که تاسی دخپل کور په آبادولو او عمران کښې پخپلو مزدورانو پسی خار کړی وی درته به معلومه شوی وی چه یومزدور له کارسره څومره چل ول کوی او خپله ورځ څنګه تېروی؟ داخو مشهوره خبره ده چه ناراسته لوګری خپل لور په لوټه تېره کوی اودابی له دېنه چه دوی له کارسره علاقه نلری بل سبب نلری ډېر خلق دی چه سړی ورځنی پوښتنه وکړی چه څه حال دی؟ وائی شکر دی شپې ورځی تېرېږی. نو ته ووایه څوك چه محض دشپو او ورځو تېرېدل غنیمت ګڼی او شکرونه باسی هغه به کار ته په څه نظر ګوری او دهغه به له یوه کارسره څه علاقه وی؟ زما په ګمان ډېر کسان دی چه ښه ښه ساعتونه دهمدې دیاره اخلی چه ما زدیګر به دایره کښې کومه دقیقه زیاته تېره نکړی، ډېر لږ کسان به وی چه د سهار دحاضری فکر به هم لری. مګر یوازې حاضری به څه کړو څوك چه یوازی حاضری سره علاقه

لری هغه ددغه اجتماعی مرض علاج نشی کولای ، مونږ له کارسره علاقه غواړو، نه له تشې حاضری سره .

دلته مې مقصد دا نه دی چه زه نو حاضری ته په درنه ستر ګه نه ګورم او دا نه بلکه دا وایم چه باید په حاضری تینګوالی د کار دپاره وغواړو او له کارسره علاقه ولرو.

مګر خبره دلته ده چه له کارسره علاقه څنګه پیدا کیږي؟ که یو ریاست یا وزارت وغواړی چه مامورین ئې له کارسره علاقه پیدا کړی څه به کوی؟ په یوه مملکت کښې څه عوامل باید پیدا شی چه خلق له کارسره صحیح علاقه پیدا کړی او وظیفه دو ظیفی په لحاظ و پیژنی؟

دد ې غټو ټپوسونو جواب چه ډېر فکر او سنجش غواړی. اصلا یوه داسی موضوع ده چه باید د اقتراح په ډول د ډېرو پوهانو فکرته وسپارل شی او ډېر څه پکښې ولیکل شی لکه چه دیوه سړی که یوی خواته پام شی بله خوائې له نظره لیری پاته کیږی . په دغسی پوښتنو کښې هر چا ته یو شی ډېر مهم معلومیږی او ټول زوریه هماغه خوا چوی ، علاوه پدې دهر کار علل او اسباب هم په یوشان ښکاره نه وی، ځینی علتونه ډېر پټ او ډېر مؤثر وی مګر ځینی ښکاره وی خو تاثیر ئې هغومره نه وی ، نو اکثر اشخاص ښکاره او څرګندو شیانو ته ګوته نیسی او د پټو پلټنی نه کوی، نوزه که دلته څه وایم هغه به همدغسی شی وی او ددې پوښتنی پوره جواب به نه وی .

د اجتماعی وظایفو او مملکتی امورو د علاقه مندی دپاره ډېر شیان ضروردی چه ځینی ئې ډېر عمر او ډېر وخت غواړی چه باید یو ملت وروسته تر ډېرو مراحلو چه تشکیل ئې نضج او پوخوالی و مومی او د تعلیم و تربیې په اثر کښې یو اجتماعی شعور پیدا کړی چه مملکت ورته خپل کور ښکاره شی او د مزدورانو چم ونکړی . دې حد ته رسیدل د ډېر ې مودې کار دی او یوه طولانی عرفانی نقشه غواړی. زه په دغسی علتو کښې اساسی بحث نشم کولی او تش همدومره وایم په کوم ځای کښې چه صحیح کار نه پیژنی او همدغه شی د پیشرفت سریع عامل وی هلته له کارسره ارو مرو علاقه پیدا کیږي یعنی دغسی چه یوه مامور ته حاضری د معاش استحقاق معلومیږی که کار او له کارسره رښتیانی علاقه څه اجر ولری او رومرو خلق له کارسره علاقه پیدا کوی دلته باید زما مقصد توضیح شی او ووایم چه د کارو مبصرین کولای شی په لاس لاندې مامورینو کښې د کار علاقه پیدا کړی مګر داهله چه کار لیدونکی ظاهربین نه وی او خوک ئې په هغه دغه نشی غولولی یعنی محض حرکت او منډی رامنډې د دوی په مخ کښې نه حجاب کیږی او د هرچا په کار کښې ډېروا ډه ذرات هم لیدی شی او پوهیږی چه دا کار علاوه په کمیت خومره صحت او کیفی حسن لری او په دی هم پوه وی چه ددغه سړی په نظر کښې چه دومره ډېر کار کوی څه غایه موجوده ده ؟ خومره چه دده د کار هنګامه ده هغومره کار یکردی که یه؟ خوک چه دده کارونه راته ستالی هغوی تش کار او ظاهری حرکاتو ته ګوری که په کیفیاتو کښې هم تعمق کوی ؟

ځینی و ختونه سړی د خلقو له خولې (چه عمومی نغاره ئې باید وبولو) اروی چه فلانکی .... هیڅ په کار ستړی کیږی نه او له فولادونه هم سخت او کلک دی هغه بله ورځ چه سخته سیلی او اوریاوه خوک له یوه کلی بل کلی ته نشو تلای مګر ده له خپل ماموریته خو کروه لیری فلانکی ځای ته چه نه یوهیږم هلته څه پیش شوی و، ځان ورسا وه او په هماغه ورځ بیرته هم راغی، اکثر ادغسی اوازی لویولو یو ځایو ته هم ورسیږی او دغسی ځینی نور عوامل هم پیدا شی چه یو سړی جدی، فعال معرفی کړی مګر چه سړی وریسی څارو کړی هغه سړی په هغه و رځ د همد غه مقصد یعنی هنګامې اچولو دپاره دا کار کړی وی او نور هیڅ کار نه وی ، ځینی نور کسان چه پدې سربوه شی هغه هم له دغسی تظاهر او عصری ریاکاری ځنی کارا خلی او خوشی په خوشی هری خواته اسونه ځغلوی نود ښه سړی له کار سره علاقه یار ښتیانی فعالیت نشی و یلی ، او نه په دغسی جدیتو او حرکاتو کارونه ښه کیږی . دلته یا مجبوریږو و چه و وایو په هر ځای کښې چه د کار ونو په لید و کښې ډېر دقت کیږی او صحیح کار قدر او قیمت لری هلته خلق له کار سره علاقه

پیدا کوی اوښه کار کوی ځکه چه انسان یو تر قی خواه موجوددی او له خپل پیشرفت او ار تقا سره ټینګه علاقه لری ، که د ده په مخکښې نو ری لاری بندی شی چه په در وغواو ریا ، تملق او چاپلو سی غدروفریب اونور وغیر مشر وعووسایلو پیشرفت ونکړی شی اویدې هم پوه شی چه دلته کاریگر اوبیکاره پټ نه پاته کیږی ، سړی دچایه ستر گو کښې خاورې نشی اچولی ، د وړاندې تګ د پاره بی له همدغی یوې صحیح لاری بله لار نشته ، په شخصی ا عتبا ر ا تو اواشنائی گانو سړ ی نشی چاپد لی ، څوك له چانه ستر گی نه پټوې اونه په چل ول کار کیږی ارومرو صحیح کا رته ملاتړی اوله کار سره علاقه پیدا کوی مگر که سړی گوری چه په ځینو نور و وسایلو سړی ډېر گرانیږی او د پیشرفت په لاره کښې صحیح کار او له درجه عامل نه دی ، څوك چه یوازی کار کولی شی ا و دپیشرفت د پاره نور وسایل نلری د هغه غاښ هم څوك نه گور ی هلته نو په ا فرا د و کښې یا نور فعالیتونه پیدا کیږی چه هغه زرنگی ، چالاکی څه او څه غواړی ، یاخوداسی شی چه په شپو و ر ځو تپر ولو شکر ونه باسی اوهیڅ نه کوی بلکه اکثریت او عمومیت دې خو اته میل کوی اوخلق په سړو زړونو کار و نه کوی صحیح ذ هنیت او صحیح فکر له دماغونو اوزی ا و په عوض کښې یاس اوبدبینی ځای نیسی د صحیح پیشرفتونو مثالونه اونمونی له خلقوور کی شی او غلطی نمونی له نظر لاندی وی .

ددې ټولو خبرومقصد دادی چه انسان په اجتماعی حیات کښې دمقایسی اونسبت په اصولو د پر کلك دی ښه ا وبد ، حق اوناحق د کامیابی اونا کا می په رڼا کښې وینی اودنتایجو له مخی حکمونه کوی ، څو اك چه ورته په حیات کښې لږ څه کامیاب معلو میږی د هغه پیر وی او تعقیب کوی اولکه چه وائی : (ختکی له ختکی نه رنگ اخلی) اشخاص هم یوله بله متاثر کیږی اونقلید کوی نو که چیری هغه کسان چه له کار سره علاقه لری وپیژندل شی اوښه و گټل شی ، د پیشر فت دپاره نور غیرمعقول سایل ختنی شی اویوازی صحیح کار کول ، له کار سره علاقه لرل یوقوی اومؤثر عامل وبلل شی څوك چه خپله وظیفه په ښه شان اجرا کو ی دپته محتاج نشی چه خپل کارو ستائی ، ځان یوه اوبل ځای ته ورسوی اوددلربائی دپاره له سلونیرنگو کار واخلی ارومرو له کارسره صحیح اور ښتیانی علا قه پیدا کیږ ی او څوك خپل لوریه لوټه نه تپره کو ی نه هغه فعالیت اولیاقت چه بایدپه کاراووظیفه کښې صرف شی بلی خوا ته صرفیږی ، اونه غلطه مجری پیدا کوی .

ادبیات

اوسنی ادب :

ای هلمنده !

له زړو خاطراتو څخه :

تل بهیږی نه و چیږی ! ای ژوندی بهانده روده !
غاړی غاړی ځګ په خوله کښې ژوند دی ټوله تګ و پوده !
تل ښورېږی ، حرکت کړی ته ډېر بدوړی له رکوده
راسه ستا سره خواله کړم
دغمجن زړه تشیده کړم

د لته ستا پر دواړو غاړو څه ښارونه ، چه ودان وه !
لمر سپوږمۍ په زر وکاله د لته بریښنده تابان وه
ستا زامن وه نو موړی راد مردان پهلوانان وه
یو وار وګوره چه څه شوه؟
په تور تم ، په ورکیده شوه

« داور » ولاړی ، ټوله وران شو « بست » دی هم خاوری ایری شو
د « زرنج » کنډوالی وینم ؛ د لوړ تیامزی ئی پری شو
« سروان » هم شو کوټی کوټی څه ماتم دلی هوری شو ؟
« البستی » په ویر ککړ دی ،
« زرنجی » په خاورو خړ دی ،

راسه ای بهانده روده ! د رته لولم افسانه ستا
ستا او به آب حیات وې ټول زامن وه مردانه ستا
چه د مرګ طوفان پر راغی ، کنډواله شوه کرانه ستا
نه څراغ د تهذیب بل سته
نه رڼا شته نه مشعل شته

د « زرنج » مدارس وران شوه علماء ئې ټول خاموش دی
نه د « بست » د انشکده سته طلبه ئې سیه پوش دی
مدنی ښارونه وران شول له عدمه هم آغوش دی
یو وار وګوره هلمنده !
څنګه تشه ستا لمن ده ؟

یو وار بیا حرکت وکړه — شا وخوا د ژوند څپه کړه
بیا ودان کړه لوی ښار ونه — پرې ایله د ژوند چینه کړه
تش ډګر دی زرغون باغ کړه — « زرنج » بیا دا نشکده کړه
خپل زامن په ژوند خبر کړه
زرغون دا کنډو کپر کړه

ولی هسی شوی بی فیضه؟ — اې هلمنده ځان ته ګوره!
د ژوندون او به خپرې کړه — غورځه، پرځه، خانده، ښوره
زرغونه کړه دا د ښتونه — پر ېږده مه، دا مځکه توره
ته د ژوند مسته چینه وی!
ولی نه ګوری، چه څه وی؟

حبیبی (ګرشك ۲۰ حمل ۱۳۱۲ ش)

څلوریزی

دنیا ښه ده چه سړی وی په معمور — که مردا ره ځنی نشی په غرور
زه او ته که ځنی جوړ نکړو شراب — بدی هیڅ نشته په تاك کښې دانګور

❀ ❀ ❀

نه څه اړلی نه دلوږی شوې مردار — پر څلورو ځغلی لور ته د کوم کار
چه خدمت کړی د خپل نس نه د وطن — خدای دی مکړه په هیڅ ځای علاقه دار

❀ ❀ ❀

که خواران لوږی ډنګر کړه یا معذور — ته هم درست عمر په ډېر خواړه رنځور
چه دی وینوستا په نس کښې ګوړه هار — دلته ئې خوری هلته ئې راباسی په دستور

❀ ❀ ❀

زمانی مزاج پتر شو ترسره اور — که کمکی زوی ته د پند کتاب کړم خپور
وائی چپ کړه پلاره زه یم تر تاپوه — لکه کوټی د خرې وړاندی ځی ترمور

❀ ❀ ❀

کار کولو کښې تن کلك ساته مدام — چه الف قد دی کوږ نشی لکه لام
هسی نه چه مستی ووینی په خوب — څو پاڅېږی بیاله مخه ئې زکام

❀ ❀ ❀

رشوت خور چه څه ونه مومی هردم — رڅیکا ږی وکږې خواته قلم
خدای دې ساتی مسلمان له هغه چا — چه د لاس کرښې ئې نېښ وی دلړم

❀ ❀ ❀

نا اهلان که زمانه کښې درښیم — خورا ډېر دی ګریوان څله په څیرم
په بې شرمو چه می نه رسېږی وس — نا چاری ده خپله ږیره به خریم

❀ ❀ ❀

په توزنه هیله مه باسه نکان — غم د چانه خوری بډای کړی ویر د ځان
په کړه وړه ئې د ښکاره مشه غلط — که څه لوړ دی سیوری نلری آسمان

(مرحوم مخلص)

تر کومه؟

ښاغلی تور عبدالجلیل

پټ به څو پورې ژړا کوم تر کومه
عاشقی به په غلا غلا کوم تر کومه

په ظاهر خلقو ته وایم عاشق نه یم
دا اظهار به بی معناء کوم تر کومه

دمجنون په شانې گرزم په بیدیا کښې
دغه سیر به د بید یا کوم تر کومه

چه مدام مې له دووستر گو خوناب درومی
په دې غم کښې به ژړا کوم تر کومه

آسایش د نړۍ شو ، له مانه ، پاته
اضطراب به په د نیا کوم تر کومه

د زړه حال و چاته نشمه و یلای
پټ ژړا ظاهر خندا کوم تر کومه

مین یمه منگر نه یمه له عشقه
دا انکار به زه له تا کوم تر کومه

هر ساعت زه د اشنا په لوری گورم
دا نظر به په دې خوا کوم تر کومه

زه تور تل له توره ځان ساتم دخلقو
عاشقی به د اخفا کوم تر کومه

غزل

په گریوان مې دسرو اوښکو باران راغی
چه په ماباندی بېلتون د جانان راغی

تور و ژړ به و لې نه یمه عالمه
چه مې مخې ته سور اور دهجران راغی

ماوېل زه به دلبر و ینمه په ستر گو
دیدن و نشو افسوس ؤ ارمان راغی

و ار خطا به و لی نه یمه له غمه
چه دغم ئې په ما باندی طوفان راغی

چه یوه ذره و فاځنې حس نشوه
له گیلې مې دا غزل په لسان راغی

چه بیا (تور) ته دا بلا شوه ورد وځاره
روغ به نشی پری مې هسې گمان راغی

ردالعجز علی الصدر صنعت

ښاغلی ملا رحمت الله خان

ښه متل دی خپل عمل دلاری مل دی
خپل عمل دلاری مل دی ښه متل دی

خور اښکاره اټکل دی چه کری هغه به واخلی
چه کری هغه به واخلی خور اښکاره اټکل دی

ومخ ته لوړ کوتل دی چه دروند بار پشا نکړی
چه دروند بار پشا نکړی ومخ ته لوړ کوتل دی

پوچ بې مغزه نل دی دریا عمل عبث دی
دریا عمل عبث دی پوچ بې مغزه نل دی

څارو در ته اجل دی وار و پار به در څخه هېر کی
وار و پار به در څخه هېر کی څارو در ته اجل دی

دزړه کور ته دی غل دی دښمن لعین شیطان دی
دښمن لعین شیطان دی دزړه کور ته دی غل دی

دغه غلیم دی بل دی دغه سر کښه نفس دی
دغه سر کښه نفس دی دغه غلیم دی بل دی

خلل درله بدمل دی رحمت الله ورنژ دی مشه
رحمت الله ورنژ دې مشه بد مل درله خلل دی

(طلوع افغان)

دالمربع صنعت

ښاغلی عبدالنبی « عزیزی »

نگاره	راشه	درنخ	دوایي
راشه	دلبره	طبیب	زمایي
درنخ	طبیب	دزړو	شفایي
دوایي	زمایي	شفایي	زمایي

(ط)

دمینی امبه

ښاغلی حاجی محمد شریف (جانان)

و سوم سره لمبه شوم بدن توله سوی سکور دی
سري ستر گی خماری د دلبر عجب ئي شوردی
و سوم سره لمبه شوم تول هد ونه می اهاك شول
پاته شو د عقل کار حواس می گرد هلاك شول
بي دعشق له بحه وبل کار ته زړه معذور دی
و سوم سره لمبه شوم له خپل یاره خخه خجل یم
گل مخ چه ئي و ینم په نار و اکه بلبل یم
عشق له رسوا ئی او لپو نتوب تل اکه ور ور دی
و سوم سره لمبه شوم له خپل حاله یم بي حاله
او ښکی می تو ئېږی در قیب له د پر جنجاله
هیله چه یار ووایی ر قیب ته مخ دی تور دی
وسوم سره لمبه شوم اي جانانه مخ را ستون کړه
خو تر خو به ژاړم تسلی خو دا مجنون کړه
نه لری بیتا بل خوك بي زړه اوبي زور دی

عشق ندی سو ر او ر دی
عشق ندی سو را ور دی
نو ر په ما غمناك شو ل
ژ به مهر و لا ك شو ل
عشق ندی سو را و ر دی
منت بار ئي تل یم
تو ر د بل ا و خپل یم
عشق ندی سورا و ر دی
و ر ك می د ی مجا له
بد ئي کړم یا یما له
عشق ندی سور ا و ر د ی
لیر ی د ا بیلتو ن کړه
و صل ئي مقر ون کړه
عشق ندی سورا ور د ی
(ط)

مینه

ښاغلی عبدالرزاق « هیښ »

تل مي دهجر پراور ولی کړوي دلبره ؟
چه گاهی ته غریب نواز گاه په غضب شی ماته
اول په مینه دي اخته کړم یای دی خه و کړله
په رازد مینی خبر نه وي په پرخه دی کول
زه دی طالب ته می مطلوب پر تاشیدایم گله
دبل ئي خه زماوستایه منخ کښي زه اوته یو
ولی دادومره ستمگاری هیڅ زړه سوی دی نشته

لکه یتن پر سره لمبه می خز خوي دلبره
نیم خبر چه په ماخه کاني کوي دلبره
اوس ماغریب له خپله ځانه بیلوي دلبره
خوبه بیلتون تو ره بلا می بیر وي دلبره
سرومال تر تابه کړم فدا کي قبلوي دلبر
خله پرما داسي غماز بیا خندوي د لبره
ستایه فراق سره می ولی ژړوي د لبره ؟

چه دی په مینه کښي سرباز (هیښ) عبدالرزاق دی
تر تا ښاغلی دی فدا ، کي قتلو ي دلبره

(ط)

څلوریځی

(۱)

که بې عیبه دوستان غواړې نه بې دومې
که دچا سره پر هر خطاب عتاب کړې
دښمنان به دی له شماره وحده تېر وی
د چاڅه سی ، خپل ژوندون به په عذاب کړې

(۲)

که څوك غواړی چه دچازړه ورمعلوم سی
چه له ماسره ئې مینه ده که جنګ ؟
پخپل زړه کې دی په ښه غور و ګوری
چه دده زړه وی ، دبل زړه دغه رنګ

(۳)

بهترین د خدای د خلقو کوم سړی دی
چه ئې نفعه و عالم ته ور سېږی
د هیچا سره ئې بد نه وی په زړه کښې
نه هیچ ته ئې د چاد نیکۍ کېږی

(٤)

درشتینی دوست عادت به در ته وایم
چه دی عیب پیدا کړی هیڅ ئې اظهار نکړی
لږ هنر ستا یو په لسه نمایان کړی
خپل احسان ، ستا به په هیڅ رنګ تذکار نکړی

(٥)

دنا پوهه عادت دادی زما زړګیه
چه یو دوست په ډېرمدت سره پیدا کړی
رعایت ئې ددوستۍ هیڅ پرځای نکا
په لږ وخت ئې هم خپه کړی هم جلا کړی

(٦)

که دوستان دی وی صالح ته به صالح شې
صحبت لوی اثر لری ، وا وره له مانه
د فاسقو په مجلس سړی فاسق سی
حکما ، وائی ، زه نه وایم له ځانه

(۷)

هرانسان لره چه ګاهی غضب ورسی
پر لازمه ده ، چه صبر او تحمل کړی
که هیڅ صبر او تحمل ور سره نه وی
انسان نه دی موشه خر دی ښه دې ځل کړی

(۸)

خپل عیبو نه دی پیدا کړه ورته ګوره
شپه او ورځ پلټې ولی عیب د نورو
که دی خپل عیب کړ پیدا هلته عاقل پې
له دماغه سو دا وباسه د نورو

(۹)

په جفا او بد خوی ، دی دوست دښمن شی
په احسان او خوش خوئی دی دښمن دوست
که طاقت دی د دښمن ددوستۍ نه وی
دا خو کړه چه دی دښمن نشی هیڅ دوست

(ښاغلی عبدالحمید خان محمد زی ، د قندهار له کوهکه)

څوك چه زړه کښې رحم نلري صيادشي

گل پاچا «الفت»

يوه ونه مې په باغ کښې و ليد له
پاس په سر ئې يوه ځاله ښکار يدله

پکښې ناسته ښايسته ښکلی مرغۍ وه
څه به وايم درته څومره گلالۍ وه

دائې کور که ښکله وه که برجل و؟
زه خو وايم د مرغانو تاج محل و

د مرغۍ واړه بچی پکښې پراته و
خو مشکل ئې له دې ځالی نه واته و

مرغۍ نه پرېښوده خپل بچی هېڅکله
چه پرواز او الوتو نه وی غافله

ورښودل ئې په هوا کښې پروازونه
خپرول اور پول به ئې وزرونه

چه بچي خپل کړی ازاد له دغه قيده
له وزرو خپلو نشی نا اميده

خپله لاړ شي په دانه پسی هر لورته
وگرزی پخپله خوښه ښکته پورته

اعتماد ئې پخپل ځانگه او خپل وزر شی
له پرواز لاندې ئې غرونه بحر وبر شی

هر لور والوزی اختيار او واك ئې خپل وی
هسې نه چه صورت خپل واك ئې دبل وی

❀ ❀ ❀

يو مرغه غواړی چه بل مرغه آزاد شی
څوك چه زړه کښې رحم نلري صياد شی

په ټوپك ولی هوسۍ زر کې زخمی کړی
بلبل ونيسی قفس کښې ئې بندی کړی

له هوا راغور ځوی مرغان په مځکه
په اتڼ کښې زانمی ولی رحم نکه

سيلانی کوتری نه پرېږدی هوا کښې
تو يوی ناحقه وينی په دنيا کښې

له ليوانو لری ډېر بتر خو يونه
چه ليوان يا ليونی شی السونه

د مهجور ږغ!!!

ښاغلی م ، ابراهيم خوا خوږی

په هجران ئې زه کباب شوم ولی نکړی اشنائی
په تن وچ لکه رباب شوم ږغ مې دی د شيدائی

په فراق لکه مجنون زه هميشه پر صحرا گرزم
تر هر رگ مې آواز خېژی د دلبر د جدائی

هيڅ مين به پروا نکړی پر دنيا د نام وننگ
سرو مال تر محبوب جارکی که رښتياوی فدائی

د ظلمت توره تياره بې په راتللو سپين سبا شی
که ئې نور د ښکلی مخ پرنړۍ وکی رڼائی

چه مې وليدې په خوب کښې د شهۍ ستر گی ملالی
شپه او ورځ ورپسی گرزم خلق مې يولی سودائی

ټول پيمخی نازولی دی خجل له سپين جماله ـ
زه ئې تل پر درگاه ناست يم د وصال کړم گدائی

په غمزو د شوخو ستر گو ئې «خوا خوږی» بيار نځور کی.
په ليدو سرې رغېږی که ئې وکړی د وائی

ای دشکلا لیونیانو؟!

ښاغلی «پرهېز»

دوېش په اوله ورځ چه لوی څښتن کسبونه او کارونه گټې وټې په خپلو بندگانو وېشلی، نو تاسې ته ئې فقط مینه او تصور درکړ، چه هر کله د تصور په ارته فضا کښې د مینې په وزرونو هرې ته چه وغواړی والوزی، ستاسې سترگې، غوږونه، زړونه، احساسات او عواطف د نورو وگړو سره ډېر توپیر لری، کوم شی چه تاسې وینی، یا آوری، نور څوك ئې لیدلای او اورېدلای نشی....

کوم شی چه تاسې حس کوی، یا په کوم شی چه تاسې پوهېږی، نور خلك ئې نه حس کولای شی او نه پرې پوهېدلای شی!!!

تاسې د شپې او د ورځې، په وېښه او په ویدو، په تیاره او په رڼا، په اوړی او په ژمی، په پسرلی او په منی کښې ښایست او ښکلاوینی، کوم کیف او خوند چه په تیاره شپه کښې د ستورو د لیدلو نه تاسې اخلی، نور خلك ئې په عمرو عمرو هم نه شی اخستلای....

کومه جذبه او هیجان چه د سپینی سپوږمۍ نه تاسې ته پیدا کېږی نور خلك ترې محروم دی هر گهیځ چه لمر راخیژی او د خپلو زرینو وړانگو په ذریعه د گلانو د مخ پرخه چه د ملغلرو په شان ځلیږی وچوی، او بیا په ماز یگر کښې چه د اسمان شنې لمنې سری کوی او زېړوی همدا تاسی یی چه په خوند ئې پوهېږی، د پسرلی او د خزان دا وړی او د ژمی په معنی هم تاسی ښه پوهېږی، د بلبل د ژړا او د گل د استغنا په رمازه لتاسی نه پرته بل څوك نشی پوهېدلای د یتیمانو او ښکی او د بېوزلو زگیر وی فقط ستاسو په زړونو کښې کار کوی؟!

د ښه اواز او ساز په آوریدلو موزړونه په نڅار اځی د سیندونو او جړوبو په لېدلو مو د زړونو غوټی غوړېږی دا پراخه دنیا ستاسی نندارتون او کائنات مو د خوشحالۍ وسایل دی.

یقین دی چه تاسی هم دا د لوی څښتن لویه بېرزوینه د ټولې دنیا په شتو او نعمتونو نه ور کوی، د همدی موهبت برکت دی چه غرونه، رغونه لوړی، ژوری، سیندونه او ابشارونه، باغونه او دښتې حتی د دنیا ټول کائنات او مناظر په هر وخت کښې تاسې ته په ورین تندی هر کلی وائی.....

زه تا ته گورم

ښاغلی م-شفیع پروانه:

ماز دیگر کله چه ته زما سره گرزېدلو د پاره ځې او دواړه د سیند غاړی تماشا کوو زمونږ د قدمونو له آوازه د پسرلی مرغان تېرېږی او شینلی موتر پښولاندی مروړل کېږی او وړې تېږی هرې خواته تښتی، نو ته له هغو شیانو څخه چه زماله اوره ډك زړه - او سوزونکو احساساتو ته لږ څه تسلی ور کوی خبری کوی، زه یوازی ستا د شونډو چه د نو وغوړېدلو غوټیو د پاڼو په شان سرې سرې کېږی، ننداره کوم.

کله چه سپوږمۍ پورته کېږی او ستاسی - د باغچی د شبو د گلانو بوی په هوا کښې خپرېږی او ته هغه خبری چه زما د زړه مینه زیاتوی په ورو راته کوی او بیا خپلې ستر گې د سپوږمۍ وخواته غړوې او په وروسته ما د آلوچې دونی د نیمی روښانه او نیمی تیارې منظرې ته متوجه کوې، زه خپل تندی چه په یوه آسمانی اور سره سوځی، ستا پښو ته چه په سپینو وریشمینو جرابو کښې پټې دی زدم او پر له پسې ئې مچوم. او ستا بڼې ته چه د پریشانه اوربل سره د سپوږمۍ په رڼا کښې د پرښتو د ښکلا په څېر ښکلی شوی دی، د یوه لیونی پشان گورم.

کله چه زه د دیدار د آرزو گانو نه ډك زړه سره د ماښام په سپکه تیاره کښې ځان ستا د کړکۍ مخی ته رسوم او پر هغه لویه تېږه باندی. پاته په ۱٤ مخ کښې

د نورو ادب :

دلامارتین اثر :

دبادام شاخله!

د «بینوا» ترجمه

دبادام داشنه ښاخله چه سر تر پایه په شگوفه پټه ده خنگه ښکلې ده ؟ او خو مره عطر ښونکی ده ؟ ...

مگر دژوندپای به ئې هم داسی وی ؟

افسوس !

خنگه ئې په ښه ناز له ونی پرې کړی او ښکلی گلونه ئې وشکری ؟

دخه ښایستو پر اوربلو اېښول کېږی او هر څوك ئې دخپل دوست پر سینه تومبې ! ...

مگر چه خوورځی پر تېری شی لکه زمونږ بې پایښته خوندونه پاتې پاتې توی شی اوله خپلی ښکلا او ښایست څخه بیله پاس او حسرته بل څه نه وی وریاته ! ...

اې ښکلې گله ! زمونږ دژوندون ماجرا خو مره تاته ورته ده ؟

دابې رحمه گل هم تاغوندی یوه ورځ له خاورو سررا باسی ، بله ورځ خپلی پاتې غوړوی بله ورځ هری څوانه عطر پاشی او یوه ورځ هم ، دخه ترهغه چه ددوبی تو دې ورځی راور سېږی مړاوی کېږی او دتور و خاو ر و یه زړه کښې ځای نیسی ! نو چه دا ښکلې اوتر وتازه شگوفه دا راز بې پایښته ده خو فرصت مووی له هغې څخه باید ستر گی وانه ړوو او په ښه عطر ئې دماغونه تازه کړو . اودمسپد ونکو غوټیو دمنځ شیره ئې وخېښو اوترهغه دخه چه دسبا وز مه ئې روح خوښوونکی بوی چور کړی اوښکلې څهر ې ته ئې ضرر ورسوی خوندځنی واخلو ! ..

ددې بیوفا گل دژوند تاریخچه ډېره سا ده ده : یو وخت ئې له خاوروسر راوئیست او بله ورځ د خاورو غېږی ته ورغی .

یو وخت دپسرلی نسیم دده ناز کی پاتې وغوړولې اوبل وخت بیادخزان باد دده پاتې هر لوری ته والوزولې!

غوږ ونیسه چه واروې هر گل چه د منی دبادله هجومه تار په تار کېږې دخه ترهغه چه لانه ئې ورك شوی څه وایی :

«ژرشی، ژرشی، داخوورځی ژوندپه خوښی تېر کړی ځکه چه ډېر ژر به دزړتیا او مړاویتوب وخت راور سېږی اودا سړه اوتوره مځکه به دهمیشه دپاره تاسی ته په خپله غېږ کښې ځای جوړ کړی !» اوس دامتدره ده چه دا ښکلی شگوفې به یوه ورځ خاوری شی نو هرڅه چه ژر کېږی مړاوی دی شی اوخاوروته دی ولاړی شی !

اوس چه داضروری ده چه یووخت به دا ښایسته گلان دنیستی خواته ځی ، نونن دی لا ولاړشی او دعشق نوم دی له ځانه سره دځمکی له مخه محوه کړی!

«پاته د ۱۳ مخ»

چه د ویالی په غاړه کښې پرته ده کښېنم اوخارو کېږم اوته له خپلې وعدی سره سم د خپلې کرکی وشا ته راځی اوپه پستو گوتو سره دی سلام رالېږې اوپه خوږ وخبرو چه زه ئې له ډېرې خوشالی نشم ار ویدلای څه وائې او زما وخواته یه معصو مانه کتلو سره گوری - نوزه یوازی ستا ښکلو او تورو ستر گوته ځیر کېږم او دمینې په ستر گو تاته گورم .

(دبوالو فرانسوی اثر)

مترجم: ښاغلی محمد عمر «نعیمی» دادبی فاکولتی متعلم

دفتوحاتو هوس

«دڅه اوڅه شی دپاره داپیلان او دا ټولی جنګی کښتی او وسلې دساحل دپرېښودلو دپاره حاضری وی دی ؟»

پاچا وویل «ځم رم ته».

- غواړی چه څه وکړی ؟

- غواړم چه تسخیر ئې کړم.»

- داخو ډېر ښه کاردی اویوازی ته اواسکندر ددی کار وړیاست.

ښه پس له هغه چه روم فتح شی چېری به ځی ؟

- دنورو لاتینی مځکو نیول ډېر آسان کاردی بیله شکه هغه مغلوبولای شم.

- بس نوهم دلته تمامېږی ؟

- دسیسل جزیری غیرله دینه چه د سیرا کوز سره دی کومك وکړی زمونږ و کښتیو ته په خپله غېږ کښې ځای ورکوی.

- بس نوستاسی پرمخ تګ هم دلته وپای ته رسېږی؟

فقط چه همدا ځای مو ونیو نویو مساعد باد دټاګورله آثارو څخه،

لازم دی چه کار تاژدی فتح شی.

- بلی اعلیحضرت ټول ځایونه نیولای شوای.

- دلیبیاتر ریګزار هم تېریدای شو، مصر او عربستان هم ترخپلی سلطی لاندی راولم له هغه ځایه وګنګ ته او بیانو نورو نوو ملکوته ځم او دناتایس پرغاړه غواړم چه سی تبان هم ولړزوم څوچه دانیمی کره ترخپل بیرغ لاندی راولم.

- آیا پس له مراجعته څه خیال لری ؟

هغه وخت نوعزیز اوګران (سیناسه) کولای شم چه به ډېره خوشحالی اوبی غمی سره دی یوساعت وخاندم اوباقی عمر دی په خوښی سره تېر کړم.

- عجبه ده! اعلیحضرته! نن چه دی هېڅ زحمت ندی ګاللی او له وطنه څخه هم نه ئې وتلی څوك ستاسی دخندا او خوښی مانع کیدلای شی ؟ بی له دې چه په ملکونو سرګردانه ګرځې خوښ اوسه.

ملکه او نوکر

مترجم ښاغلی «نوابی»

نوکر - اې ملکې پخپل نوکرورحمېږه !

ملکه - مجلس ختم شوی دی زما خدمتګاران ټول تلی دی ته ولی ناوخته او وروسته راغلی ؟

نوکر - زما نوبت هغه وخت رسېږی چه نور کسان تلی وی زه راغلم چه پوښتنه وکړم چه له خپل آخرنی نوکر سره څه کوی؟

ملکه - په دې وخت چه وخت تېردی زمانه څه غواړی؟

نوکر - مادخپل باغ باغوان مقرر کړه.

ملکه دا څه احمقی ده ؟

نوکر - زه بل کار او شغل پرېږدم، زه توری او نیزی خاوروته آچوم، مالرې دربارو ته مه لېږه، ماته فتوحات مه سپاره، مادخپل باغ باغوان مقرر کړه.

ملکه - هلته به ستا کار څه وی ؟

نوکر - ستا دخمار آلودواو ملالو سترګو بندګی. زه دهغو وښو چه سبائی پکښې ته تېر ېږی هلته چه مړاوی ګلونه ستا قدمونه ښکلوی ننداره کوم زه به تاپه هغه ټال کښې چه د (پتاپارنا) په شاخونو پوری ځوړند دی ځنګوم هغه ډیوه به چه ستا د بستر په خوا کښې سوزی له معطرو تیلو ډکوم.

پاته پخ ۱٤ مخ

دجی ـ ډارلی اثر

زړه غواړم

مترجم: محمد خالد ـ «روښان»

د ادبیاتو دفاکولتی متعلم

زه ښایست نه غواړم . هغه بلوری تندی چه سپوږمی هم ځنی شرمیږی ، هغه سپین سپېڅلی لاس چه تر واوری سپین دی زما آرزو نه ده ـ ددریاب دلور تر ویښتانو ښکلی او سرو زرو ته ورته ویښتان می په کار نه دی .

ماته مه ستایه ! خپلی د ستورو په شان ځلیدونکی سترګی ؛ خپلی سرې شونډی چه ته وا په ګلاپو مړی شوی دی ، خپل هغه سپین ټټر چه دعشق رب النوع په رېږدیدا باندی پروت او ځکه چه داحترام له رویه ئې دمچولو نه وزګاریږی نو یودم خوب نه ورځی !

ستا دا ګلابی ګلالی باړخو چه پخپله د زلمیتوب درب النوع باړخو دی ؛ ستا داهسی ساه چه په وتو ننوتو کښې دموسیقی خوازه نغمات ، دیسرلی دنری شمال په څېر ورو ورو دځانه سره وایی ، دا ماته یوازی ظاهری زینتونه دی .

شونډی څه دی؟ دطوفانی سیندلاندی مرجانونه . کله چه ترسر تېرمین ئې ځان غاړی ته اچوی ، ډېر کله دعدم لوری ته ځی .

باړخوګان څه دی؟ دتاوده زلمیتوب دبیولو علامې دی دوینو ومیدان ته .

سترګی په خپلو نابود کوونکو جذبو هر څه سو ځولای شی ـ...

ډېر سپین لاسونه دی چه دخوارومینانو د سووزړونو اېرې په ښیښو کښی اچولی دنمایش دپاره ئې دځان سره ګرځوی .. . . .

په بلورینو تندیو کښې دننه هیڅ نشته، یوازی ددباو دپاره تش حجرې دی ... څوك چه غواړی ددریاب دلور ویښتان لاس ته راولی، ډېر کله پخپله پکښی پېچلی ، په بحر کښې لاهواو ژورې ئې ځای شی .

❀ ❀ ❀

نو ماته دښایست دظاهری ښکلیتوب په عوض یو دزړه سوی ډك اووفادار زړه راوبخښه چه په ډېرو آزمیښتونو آزمو ده اوبیخطا ثابت شی .

هسی زړه چه وکولای شم ، دننه پکښی خپل په اندیښنو ډك زړه دشاتو دمچی په شان چه خپلی غلبلی په ګلاپو کښې پټوی ، لږ څه هوسا کړم !

« پاته د ۱۵ مخ »

ستا دپښو ځای به دصندلو اوزعفرانو په خمیری باندی ښایسته کوم .

ملکه ـ ستا انعام به څه دی ؟

نوکر ـ که ماته اجازه راکوی دګلونو امېلونه به جوړوم او ستا په مړوند کښې به ئې آچوم ستا پښی به د (اشوکار) دګلو په پاڼو سرې کوم .

ملکه ـ ستا د عامستجابه شوه ته زما د ګلستان باغ وان ئې .

؟ ؟ ؟

پوښتنه ، گرو ېږنه

اقتراح :

دکوم شاعر شعر مو خوښ دی ؟

څوورځی دمخه دصحافت څانگی د کابل له مشهورو پوهانو څخه دلوړی خبری پوښتنه کړې وه ، او د هر چارأی ئې په مختصر ډول غوښتې وه ، زمونږ دغه پوښتنه د پښتو او پارسی شاعرانو په خصوص کښې گډه وه ، او له ښاغلیو فضلاؤ ، څخه تشکر کوو ، چه زمونږ دا قتراح ځوابونه ئې وویل ، ددې لپاره چه د کابل مجله په داسی ادبی څېړنو کښې د پوهانو دنفیس ذوق نمایندگی وکړی ، دا دی چه دښاغلیو ځواب لیکونکو قیمتی آراء لاندی نشر کوو ، امید لرو چه آینده هم د کابل مجله وکړای شی ، چه په ادبی مهمو مسایلو کښې دخپل محیط دذوق ښکارونه په ښه ډول وکړی . زمونږ پوښتنه داسی وه :

« د پارسی او پښتو په پخوانو شاعرانو کښې مود کوم شاعر شعر ډېر خوښ دی ؟ »

لاندی ځوابونه رارسېدلی دی :

(۱)

حافظ ، سعدی ، کمال خجند ، نظامی ، فردوسی ، فرخی ، انوری ، مسعود سعد سلمان ، صایب ، بیدل ، (اوله ټولو څخه بیا مخصوصاً حافظ)

(ښاغلی گویا اعتمادی)

(۲)

حافظ ، نظامی ، منوچهری ، فردوسی ، فرخی سیستانی ، خوشحال ، رحمان ، شیخ متی ، مسعود سعدسلمان .

(ښاغلی پژواك)

(۳)

مولوی ، فردوسی ، سنائی ، سعدی (ښاغلی م غبار)

(٤)

سعدی ، حافظ ، نظامی ، صایب ، بیدل (له فارسی شعراؤ څخه) او رحمن بابا او خوشحال خان (له پښتنو شعر او څخه) ځکه چه تاسی پخپله دلیل نه دی غوښتی ، نوئې نه وایم ، امادونی اجازه راکړی ، چه ووایم : هم اوس دستی زماله نظره دځینو نوروشاعرانو آثار تېر ېږی ، او ماله سرزنش را کوی ، چه د دوی نومونه ولی دلته نه اخلم ؟ او ولی نشوای کولای ، چه یوشاعر فقط دده په یوه غزل ، یا یوه قطعه ، یا یوه فرد ممتاز وگڼم ؟

(ښاغلی شمس الدین خان مجروح)

(٥)

که و وایم چه دبیدل او حافظ له اشعار و څخه په یوه اندازه خوند اخلم ، ښائی چه سخن شناسان ته تعجب وکړی ، او دفیصلې په سیکاوی به می محکوم کړی ، اما حقیقت هم دغه دی ، د پښتو له شعره سره چه لږ آشنائی لرم ، دخوشحال خان او رحمن بابا اشعارمی دواړه په یوه اندازه سره محظوظ کوی که څه هم هر یو له دوی څخه بیل دبستان ته منسوب دی .

(ښاغلی رشتیا)

(٦)

په پښتو کښې می کاظم خان شیدا (د ادبی نزاکتو له حیثه) او عبدالقادر خان ختک (د روانی او سلاست له حیثه) اورحمان بابا (دمعنویت او روحی تأثیر له حیثه) خوښ دی ، دښکارندوی ، اواسعد سوری اشعار می د یوې یوې قصیدې له رویه ، او دشیخ متی یومناجات می هم د ډیر خوښ دی په پارسی کښې د سعدی او حافظ اشعار خوښوم دپښتو شاعرې « سپینی » اشعارمی هم خوښ دی .

(ښاغلی بینوا)

(٧)

فردوسی ، نظامی ، سعدی ، حافظ ، صایب ، غنی ، بیدل ، شوکت ، کلیم ، واقف ، اماسنائی اومولوی (رحمهاالله) دتصوف له حیثه خوښوم .

(ښاغلی هاشم شایق)

(٨)

دکلیم ، حافظ ، بزمی اشعار ، او دبیدل او نظامی تصوفی او اخلاقی اشعار می خوښ دی .

(ښاغلی محمدکریم نزیهی)

(٩)

فردوسی ، فرخی ، حافظ ، صایب ، بیدل . اوله پښتو شاعرانو څخه عبدالقادر ختک او رحمان بابا .

(ښاغلی صدقی)

(١٠)

له پښتو څخه رحمان بابا ، اوله فارسی څخه مولانای بلخی (جلال الدین)

(ښاغلی محمد قدیر تره کی)

(١١)

په پښتو شاعرانو کښې می درحمان بابا او خوشحال خان اشعار خوښ دی ، ځکه چه هم معنوی خوند او هم ظاهری عذوبت لری ، مگر په فارسی شاعرانو کښې می خواجه شیراز حافظ خوښ دی ، ځکه چه دده اشعار می تل دزړه تسکین کوی .

(ښاغلی حبیبی)

(١٢)

رحمان بابا ، خوشحال خان ، عبدالقادر خان او علیخان ختک می په پښتنو شاعرانو کښې خوښ دی ، حافظ ، سعدی رانه په فارسی شاعرانو کښې ښه ښکاری . که دشاعر قید نه وای نوویلی به مې و ، چه په پښتو کښې مې لنډی اوملی چاربیتی چه د اکثروشاعران هم معلوم نه وی ډیری خوښی دی . (الفت)

ادبي کتنې

ادبي فنون :

ښاغلي «بينوا»

وينا - يا - خطابه

(۳)

خطابه په منطق کښې :

خطابه دوه مخه لري : يو علمي بل ادبي .

له علمي مخې خطابه : دعلمي مخې خطابه د منطق له پنځګو نو صنعتو څخه ده ، ځکه نو بايد لمړی دمنطق په شاوخوا کښې لږ څېړنه وکړو ، بيا به د خطابې مقام په منطق کښې وښيو :

دمنطق دعلم واضع څرګند نه دی خو مدون او بشپړوونکی ئې ارسطو دی . يعنی ترارسطو دمخه هم دمنطق بحثونه وه ، مګر تدوين شوی نه وه . ارسطو تدوين او بشپړ کړه او دمنطق پاشلی او غير منظم قواعد او قوانين ئې راغونډ کړه ، بلکه ترارسطو دمخه خلکو له منطقه بدوړل او حکماوئې تدريس نه کاوه . حتی دافلاطون استاد سقراط په ټولو منطقي او فلسفي بحثو کښې ئې يوه کلمه هم نه ده ليکلی او دده ټول فلسفي عقايد د ده ددوو شاګردانو زينفون او افلاطون له کتابو څخه ښکاره شوی دی .

افلاطون په لمړی سر کښې دخپل استاد لاره ټينګه کړی وه خو په پای کښې د کمزوری او ضعف له رويه وبېرېده چه دده عقائد له منځه ولاړ نشی نو ئې د کتابونو ليکل شروع کړه (۱) .

دارسطو منطق : دارسطو منطق اته کتابه دی - چه نومونه ئې دترجمې سره دادی :

۱ :- قاطيغو رياس يعنی مقولات .

۲ :- باری ارمانياس يعنی تصورات او قضيه او اقسام ئې .

۳ :- لمړی آنالو طيقای يعنی د قياس تحليل (دقياس مقدمې او اجزا او اقسام او عکوس ئې ....)

٤ :- دوهم آنالو طيقای = برهان .

٥ :- طوبيقا = جدل .

٦ :- سوفسطيقا = مغالطه .

۷ :- ريطو ريقا = خطابه .

۸ :- بوطيقا = شعر .

داچه دا کتابونه يوه مجموعه وه يا جلا جلا اختلاف دی مګر محققه داخبره ده چه شپږ کتابه (مقولات تصورات او قضيه ، دقياس تحليل ، برهان ، جدل مغالطه) يوه مجموعه وه او دوه کتابه «خطابه او شعر» جلا کتاب او مجموعه وه .

د دې د واړو مجموعو نوم ئې «ارګانون» اېښې و ، ارګانون په يونانی کښې «اوزار» او آلې ته وايی ، دلته هم ځکه چه منطق دقانون يوه آله ده نو ارګانون ورته وويل شوه .

په دې ترتيب نو څرګنده شوه چه له علمي مخې خطابې په منطق کښې لوړ مقام درلود او دارګانون يوه جزو باله کېدله .

دمنطق پنځګون صنعتونه : د منطق پنځه صنعتونه دادی :

برهان ، جدل ، مغالطه ، خطابه او شعر (۲) .

۱ - برهان : برهان هغه قياس دی چه له يقيني قضايا و څخه مرکب شوی وی چه اصول ئې دادی

(۱) تاريخ مختصر منطق ص ٤ و ٥ .

(۲) اصول خطابه و تاريخ مختصر منطق ۲۳ مخ

اولیات ، مشاهدات ، تجربیات حدسیات فطریات اومتواترات .

اولیات : اولیات هغه قضایادی چه هیڅ ډول استدلال ته اړ نه وی لکه داچه : کل تر جزء لوی دی .

مشاهدات : هغه قضایادی چه په ظاهری یا باطنی حواسو درك کاوه شی لکه داچه لمر روښانه دی اوزه تږی یم .

تجربیات : هغه قضایادی چه د آزمویښت او تکرار له امله ثابت شوی وی لکه داچه : کونین تبه لیری کوی .

حدسیات : هغه قضایا دی چه د انسان ذهن له تا کلیو شوی مبادی څخه نتیجو ته ولاړ شی .

لکه داچه : دسپوږمۍ رڼا له لمره ده .

فطریات : هغه قضایادی چه د هغو دواړو خواو تصور له نسبته سره په حکم کښې کافی نه وی بلکه په غیرحسی یعنی ذهنی واسطه پوری اړه ولری او دا واسطه باید د قضیی د اطراڤو د تصور په وخت کښې له ذهنه غائبه نه وی . لکه داچه څلور جفت دی - لکه چه په دې قضیه کښې حکم په ذهنی واسطه سره دی چه هغه انقسام بمتساویین باله کیږی .

متواترات : هغه قضایا دی چه حکم په هغو کښې د یوې ډلې له خولی وی او نقلا ددې ډلی توافق پر د رواغو محال وی - لکه داچه مکه موجوده ده .

۲ : جدل : جدل هغه قیاس دی چه له مشهورا تو او مسلما تو څخه مرکب وی ،

مشهورات : هغه قضایا دی چه د بشری ټولنی پری اتفاق وی لکه داچه : ښه ښه دی بد بد !

یا داچه د ځینو په عقیده پری اتفاق وی .

مسلمات : هغه قضایادی چه د مناظری په وخت کښې د یوی خوا په نزد منلی شوی وی یا داچه په یو ه علم کښې برهاناً ثابت شوی وی او په بل علم کښې د مسلمه اصولو په عنوان منل شوی وی : لکه د حساب قواعد چه د ریاضی په اکثرو علومو کښې د مسلمه اصولو په توګه اخیستل شوی دی .

۳ : مغالطه : مغالطه یا سفسطه هغه قیاس دی چه له وهمیاتو او مشبهاتو څخه مرکب وی .

وهمیات : هغه قضایادی چه په هغو کښې وهم حاکم دی نه عقل .

مشبهات : هغه درواغجن قضایادی چه در ښتینو او صادقو او اولیه قضایا وسره شبیه وی لکه داچه : انسان وینته لری او وینته شین کیږی نو انسان شین کیږی .

٤ : خطابه : خطابه هغه قیاس دی چه له مقبولاتو او مظنوناتو څخه مرکب وی .

مقبولات : هغه قضایا دی چه د داسی کسانو څخه واخیستل شی چه پر هغو دا روېدونکو اعتماد او اعتقاد وی لکه انبیاء ، اولیاء ، پوهان او نور ....

مظنونات : هغه قضایا دی چه په ارویدونکو کښې د هغو د صحت او رشتیا والی ګمان پیدا شی .

٥ : شعر : شعر هغه قیاس دی چه له مخیلاتو څخه مرکب وی او مخیلات هغه خیالی قضایادی چه د نفس د انبساط او انقباض باعث وګرځی .

❀ ❀ ❀ ❀

له ادبی مخی خطابه :

خطابه د ادبی لحاظه ځانته فن دی او د اخبره نشته چه د منطق جزء باله شی ، ادبی تعریف او د ادبی خطابې موضوع او غرض خود مخه په لمړی برخه کښې ولیکل شو د لته به د خطابې اصول ولیکو :

دخطابي اصول :

دخطابي اصول درې دي :

ابتکار ـ تنسیق ـ تعبیر

۱ـ ابتکار :

داروېدونکو دقناعت دوسائلو په ټاکلو کښې فکر په کار اچول ابتکار دی چه دهغه په اثر داروېدونکو عواطف په ښور را شي .

❀ ❀ ❀

۲ : تنسیق :

دخطابي دمعنا او داجزاو دسیاق انتظام ته تنسیق وایي. دتنسیق څخه مقصد دخطابي داجزاو دترکیب ټینګښت اودهغو یوله بله ارتباط دی. داددې دپاره چه اغیزه او تأثیر ئې ډېر شي او داروېدونکو زړه تنګ نشي.

دتنسیق اصول درې دي:

مقدمه ـ اثبات ـ خاتمه

مقدمه :

وینا کوونکی باید له مقدمې څخه درې نتیجې واخلي ، یوه داچه زړونه جلب کړي او خلك ځانته متوجه کړي داله «ښه افتتاح» څخه پیدا کېږي .

دوهمه داچه اروېدونکی باید داجمال په توګه دخطابي موضوع له مقدمې څخه وپهموي دا «دمقصد له بیان» څخه لاس ته راځي. دریمه داچه داروېدونکو شوق او ترغیب خپلې وینا ته پیدا کړي چه دوینا کوونکی وینا په ډېر شوق واروي دا «دخطبې په تقسیم» اړه لري .

ښه افتتاح :

ښه افتتاح داده چه الفاظ صحیح او سپك او معنائي څرګنده وي، حشو او زوائدونه لري. او افتتاح څلور قسمه لري:

لمړی داچه دیوه موضوع په شرح کښې بې له تکلفه پېل وشي، دا افتتاح په عادي مجلسو او ادبي محافلو کښې ښه ده .

دوهم داچه دمطلب بیان په ښو خوږ واو جذابو الفاظو او ښه تعبیر سره شروع شي، دا په هغو ځایو کښې وي چه دیوې مهمې اولویې واقعې ښکاره کول وي، لکه ابو بکر صدیق (رض) چه درسول اکرم (ص) در حلت په ورځ چه هیچا داجرأت نه در لود چه دحضرت وفات ښکاره کړي، دی پر منبر وخوت وې ویل :

«ایها الناس انه من کان یعبد محمداً قدمات ومن کان یعبد الله فان الله حی لایموت» دریم داچه داروېدونکو غوږ وته دهغه کار علل ورسول شي چه خلك ئې دهمت پر کښته والې حمل کوي

څلرم داچه دحال داقتضا سره سم په وینا کښې کنایه، تعریض، تلویح او اشاره راوړه شي .

دمقصد بیان :

دمقصد بیان دادی چه حاضرینو ته خپل مطلب څرګند کړي او ددې شرطونه پنځه دي :

لمړی داچه دیوې چارې په شاوخوا کښې وي ځکه چه دموضوع وحدت موضوع ښه څرګند وي .

دوهم داچه دمقصد بیان باید واضح وي او په صافو او ښکاره الفاظو وویل شي. ځکه چه دموضوع پټوالی اروېدونکی ستړی کوي .

دریم داچه په اروېدونکو کښې نشاط پیدا کړي او داد مطلب په ابتکار اړه لري دا په هغه وخت کښې چه اروېدونکی خواشینی او غمګینه وي .

څلرم داچه له اصلي مقصد څخه خارج نشي ځکه چه له مقصده وتل داروېدونکو دحواسو دپریشانۍ سبب کېږي او نتیجه لاس ته نه راځي .

پنځم داچه وینا کوونکی باید واردو اره د تفصیل په توګه په موضوع کښې داخل نشي، ځکه احتمال لري چه نتیجې ته به ونه رسېږي. یا به دډېر غال مغال سبب وګرزي او له مقصده به پاته شي، اول باید داجمال په توګه مقصد شروع شي او ورو ورو چه داروېدونکو زړونه ځانته جلب کړي په تفصیل به شروع کوي .

دخطبې تقسیم :

وینا باید پر څو اجزاو وویشل شي ـ ددې فائدې دادی چه:

اول خو وینا کوونکی دمعنا له تکراره ساتل کېږي

دوهم داچه اروېدونکو ته دخطیب سبك او روش معلومېږي .

دریم داچه پخپله وینا ښه واضحه او ښکلي راځي .

مثلاً علی کرم الله وجهه پلرونه داسی ویشی !

پلرونه درې قسمه دی: یو هغه پلار چه تا پیدا کوی دوهم هغه پلار چه تعلیم درکوی دریم هغه پلار چه تاسی روزی.

اثبات :

دتنسیق دوهم اصل اثبات دی، اثبات دوینا د موضوع تائید دی چه په برهان او دلیل سره وشی. اثبات پر دوه قسمه دی : ایجابی-سلبی:

ایجابی هغه اثبات دی چه دیوې موضوع شرح وویله شی بیا هغه په ښکاره او ټینګو دلائلو ثابته شی دې ته تبیان هم وایی.

سلبی اثبات هغه دی چه وینا کوونکی دخپل مقابل دلائل رد کړی او دهغه عقائد باطل کړی.

خاتمه :

دتنسیق دریم اصل خاتمه ده. خاتمه دوینا کوونکی وروستنو خبرو ته وایی څنګه چه د خطیب وینا پر خاتمه تمامیږی نو وینا کوونکی باید خپل ډېر قوت پر دې خبرو واچوی چه داروېدونکو داقناع او تحریك سبب وګرزی او ددوی عواطف په ښور راولی او زړونه ئې تر تأثیر لاندی ونیسی او دلته باید دوینا غرض لاس ته راوړه شی، ځکه چه مونږ خو د مخه ویلی وه چه د وینا غرض د اروېدونکو اقناع او ددوی ترغیب هغه کارته دی چه دوینا موضوع وی نو دوینا په پای کښې باید دادوه غرضه له نظره ونه لوېږی او اکثراً هم چه دوینا وروستنۍ جملی ټینګی او جذابی وی اروېدونکی په ټوله وینا قانع کېږی او ترغیب پیدا کوی، او که ټوله وینا ټینګه او متینه وی خو چه وروستنۍ جملې ئې سستی وی داروېدونکو په مغزو کښې چندانی کار نکوی، ځکه چه اکثراً داروېدونکو په مغزو کښې وروستنۍ جملې پاتېږی

۳ تعبیر :

دخطابی دریم اصل تعبیر دی چه به وینا کښې ددې اصل مراعات خورا مهم باله کېږی. یعنی دمطالبو بیان او حسن تعبیر دوینا پوخ اساس دی او علاوه پر دی چه دبلاغت او فصاحت او معانی او بیان دقواعدو مراعات باید وشی دا لاندی چاری هم په نظر کښې ونیول شی.

لمړی داروېدونکو دحال رعایت - یعنی دادیبانو په مجلس کښې یو راز تعبیر او الفاظو ته ضرورت دی او دعامی دطبقی دپاره بل راز تعبیر لازم دی نو دحال مقتضاته باید وکتل شی او دهری طبقې سره دهغو په ژبه خبری وشی که نه وی څه نتیجه په لاس نه راځی

دوهم داچه دخبرو طرز باید مختلف وی، کله مدح کله بد، کله هزل، کله جد، کله شکر، کله زجر، کله توبیخ، کله تشویق چه دهر یوه پخپل خپل ځای کښې باید مراعات او ساتنه وشی.

دریم داچه وینا کوونکی باید دخپل حاله سره سم تعبیر وکړی یعنی د سپین ږیر توب پروخت د زلمیتوب او دزلمیتوب پروخت دسپین ږیر توب تعبیر ونه ونه شی که زوړ د هلك چمونه وکړی یا هلك کلان کاری وکړی دلویانو په شان وږغیږی ډېر بدایسی او علاوه پر هغه وینا ئې هم له تاثیره لوېږی.

څلرم د لهجی پورته کښته والی هم ډېر اهمیت لری چه دقهر پر ځای په یو راز او رحم پر ځای په بل راز لهجه تعبیر وشی.

پنځم په تعبیر کښې دبدن حرکت دلاس خو ځول ښۍ او کیڼی خواته کتل پر خپل موقع باندی ډېر اهمیت لری، همدارنګه دسرښو رول پر خپل ځای ښه تاثیر کوی. (نوربیا)

دادبیاتو دمورخ دپاره اساسی مواد

ښاغلی محمد قدیر خان (ترهکی)

کوم مهم موادچه دادبیاتو مؤرخ دیوه ادبی متن په تدقیق کښې ورځنې کارا خلی دالاندنې شیان دی :

۱ـ لمړی به ادبی متون پیدا کوی اوورو سته به دیوه اثر مختلفی نسخی یوله بله مقایسه کوی اونوا قص به ئې اصلاح کوی .

۲ـ هماغه متن چه ده ته صحیح معلومیږی او په صحت ئی اعتمادلری په دقت به ئې گوری او کوم حسیات یا هیجانات چه دمطالعی په وخت کښې ورته پیدا کیږی دپره اعتنا به ورته کوی .

۳ـ ددې دپاره چه دلیکونکی په مقصداو مرام ښه پوه شی فکر به کوی چه لیکونکی څه شی مجبور کړی چه دغه اثر ولیکی

٤ـ ځینی اصطلاحات په ځینو وختو کښې وی چه پخپل وخت کښې دظرافت، استهزا تعجب اوڅه وخه دپاره استعمالیږی نو که په یوه ادبی متن کښې دغسی اصطلاحات موجو دوی داد بیاتو مؤرخ باید هغه اصطلاحات په هماغه مفهوم چه داثر دخاوند دژوندپه وخت کښې ئې درلود دتبصرې اوحاشیی په ذریعه روښانه او واضح کړی او که داسی ونشی دیوه شاعر افکار اوحسیات په بل وخت کښې پوره نه خرگندیږی .

٥ـ کله چه مؤرخ په یوه ادبی اثر تحقیقات کوی باید ترټولو دمخه هغه تاثیرات چه دنورو داخلی او خارجی آثارو څخه دبحث دموضوع په لیکونکی واردشوی تعین کړی او دلیکونکی شعری اوادبی مسلك ومرام ځانته معلوم کاندی .

٦ـ هغه متن چه دلیکونکی په لاس کښې دی باید له هرې خوا یکښې تحقیقات وشی اود لیکونکی له نورو آثارو او حتی له مکتوبو سره ئی هم مقایسه شی ترڅو چه دلیکونکی خاص اومعین روښانه مسلك معلوم شی اود خبط او خطا احتمال کم شی .

۷ـ دهغو تحقیقاتو په اثر چه په یوه ادبی متن باندې کیږی باید داثر دخاوند بدیعی عقاید اوافکار، دخپل وخت دبدیعی اوادبی جریاناتو دپابندی در جه ، هغه تحولات چه ده دخپل وخت په بدیعی اوادبی روش کښې کړیدی، هغه پابندی چه دی ئې پخپل وخت کښې دا جتماعی عنعناتو او آدابو په نسبت لری په واضح ډول تعین شی .

که دادبیاتو تاریخ دپخوانو یااوسنو دادبی اثارو په تحقیق اومطالعه کښې دغه شرایط لری ممکنه ده چه دخپل مرام او آرزو په لاره کښې چه د اشخاصو دصنعتی قوت اوبدیعی ذوق واستعداد ښودنه ده موفق ثابت شی .

هرادبی اثر دیوه داسی فرد دادبی ذوق او قریحی اوارزومولو ددی چه هغه دخپل محیط داجتماعی دریاب په غوټو خوړونکو کښې بیچاره اودرمانده پاته دی او دموجودیت په اعماقو کښې خوش بخت یابدبخت، خوش بین یابدبین شویدی نو له دی کبله هرادبی اثر یوه داسی خزانه ده چه دلیکونکی دحیات اسرار اوغوامض خرگندوی او دمطالعه کوونکو اوهغو کسانو دپاره چه د پخوانو له دفتره دزندگی رمز غواړی یولوی درس او مهم سرمشق اوتجربه ده .

دادبیاتو هغه تاریخ چه دآثارو دانتقاد اودپور تنیو موادو په رعایت لیکل شوی وی مطالعه کوونکی مشغول اومستفید کوی مگر کوم تاریخ چه له دغو شرایطو عاری وی بی له دینه چه دپخوانو داثارو انتخاب ورته وویل شی بل شی نه دی اودشعراء له تذکرو یادادبی او شعری دیوانو څخه زیات تاثیر نلری .

دادبیاتو هر تاریخ یوه نوعه تذکره ده مگر هره تذکره دادبیاتو تاریخ نه دی ځکه چه داد بیاتو دتاریخ لیکونکی دتذکری له لیکونکی څخه زیات متبحر او جامع وی. دادی دادبیاتو دمؤرخ دوظیفی اساسی خطوط .

دآلی نوم

ښاغلی صدیق الله خان رشتین

په پښتو کښې که څه هم د آلی دپاره ځینی ترکیبی اوقیاسی نومونه شته مگر لږ دی اوددې وجه په البته داوی چه دغسی نوموته به دځه ضرورت نه وی پیښ شوی .

هر کله چه موجوده وخت دپښتو ژبی دتکامل دوره ده اودا کوښښ جاری دی چه دا ژبه یوه علمی اوادبی ژبه شی او دزمانی دتقاضا اودوخت دضرورت اواحتیاج سره سم نوی الفاظ ، کلمات او نومونه پیدا کړی .

مگر نوی الفاظ او کلمات وضع کول اواینښوول ضرور یوه لار او یو قانون اواساس غواړی او باید ددی چه نوی الفاظ او کلمات د ژبی دقانون او گرامر سره سم کیښودل شی ددې ضرورت له امله مونږ کله کله دغسی دژبی گرامری او قانونی بحثونه کوو.

نوداخل غواړو چه دآلی دنوم په شاوخوا کښې یوخو کرښی ولیکو اوښاغلو لوستونکو ته ئی دیو اساس په حیث وړاندی کړو چه دآلی دنومونو به اینښو دلو کښې ورڅخه کارواخلی

دآلی نوم: آله هغه شی دی چه دفاعل اومفعول ترمنځ دفعل درسولو ذریعه اوواسطه وی یعنی دهغه په واسطه دیو فاعل او کوونکی فعل او کار اجرا کیږی .

د دغه شی نامه ته اسم آله وایی لکه مچ شرونی چه دمچانود شړلو دآلی نوم دی اسم آله داسم عام او اسم ذات یو قسم دی ، لحکه چه دخپل قسم تو لو افرادو له شاملیږی اوغالباً دیوذات او جسم نوم وی .

د آلی قسمونه: دآلی نوم پردوه ډوله دی :

۱- اصلی ۲ - مشتقی اوترکیبی .

۱-اصلی هغه دی چه یو بسیط نوم وی اود کومی بلی کلمی څخه نه وی ماخوذ شوی لکه: اره ، رنده ترښخ ، لور ، جاروا وداسی نور (۱) .

۲-مشتقی هغه دی چه دوه جزءلری اوله مصدر څخه جوړه شوی وی یعنی فعلی ماده ولری لکه سرتړونی اورلړونی .

دې قسم ته قیاسی آله هم ویل کیږی :

ددې قسم دجوړولو طریقه اوعلامی :

دوهم قسم اسم آله له متعدی مصدروڅخه دځینولاحقو (وروستیو) په را وړلو جوړیږی چه دادی و روسته ئې ښیو :

۱-(ونی) که چیری دمتعدی مصدرونو په آخر کښې دلام دحذف کولو نه وروسته (ونی) راوړل شی نو دآلی نوم ځنی جوړیږی مگر دادوه صورته لری اول داچه دمفعول سره استعمال شی اوټول دیوې آلی دپاره نوم وی .

(۱) دترکانی اونورو کسبو آلات په دې کښې داخل دی.

دوهم داچه بی له مفعوله یوالخی استعمال شی ، دادوهم صورت غالباً له «ول والا» مصدرونو څخه جوړیږی ددواړو صورتو مثالونه دادی :

اول صورت:
- مصدر - اسم آله
- سر تړل - سر تړونی
- اور لړل - اور لړونی
- غاښ تومبل - غاښ تومبونی
- مچ شړل - مچ شړونی
- رګ وهل - رګ وهونی (نشتر)
- غوږ وهل - غوږ وهونی

دوهم صورت:
- مصدر - اسم آله
- لوبول - لوبوونی
- لګول - لګوونی
- چاڼول - چاڼوونی
- رنړول - رنړوونی
- توږل - توږونی

تبصره :

هر کله چه (ونی) د صفت فاعلی او آلی ترمنځ مشترک دی نو دا دوهم قسم نومونه یه هغه صورت کښې د آلی نومونه دي چه دیو غیر ذیروح شی دپاره استعمال شی او دیوبل نوم توصیف هم ونه کاندی بلکه یه خپله یو ذات او یوشی ور څخه مرادوی .

۲ـ (ی) که چیری دیو اسم سره چه مفعول وی ، فعلی ماده پیوسته شی او یه آخر کښې ئې (ی) راوړلی شی نو یه دي صورت کښې هم ترکیبی آله جوړیږی خو یه دي شرط چه یه یو غیر ذیروح شی (۱) دلالت وکړی لکه : لاس پاکی - مچ وژی - مچ شړی .

یه دي مثالونو کښې (پاک ، وژ ، شړ) فعلی مادی دی .

ضمیمه : کله د (ی) دالحاق نه یه غیر هم د اسم او فعلی مادي له ترکیب څخه اسم آله جوړیږی لکه : لاس پاک - مچ شړ - اورلړ .

تبصره :

یه پښتو کښې د آلو مستعمل نومونه غالباً همدغه وو چه بیان شول . مګر که چیری وغواړو چه د آلی نوی نومونه جوړ کړو نو داسی به کوو چه د کم فعل دپاره چه د آلی نوم جوړول مطلب وی ؛ دهغه فعل له مصدر څخه د مصدر لام حذفیږی او یه ځای ئې د آلی علامی (ونی ، ی) راوړل کیږی .

مثلاً کولای شو چه دیو کول له مصدر څخه (یو کوونی) دیو کولو د آلی دپاره استعمال کړو .

یه دي ډول کیدای شی چه د غو څول له مصدر څخه (غوڅوونی) دغو څولو د آلی دپاره ، او تودول له مصدر څخه (تودوونی) د تودولو د آلی دپاره ، او د اوبه شیندل له مصدر څخه (اوب شیندی) د اوبو شیندلو دپاره ، او دپا کول له مصدر څخه (پاکوونی) دپا کولو د آلی دپاره ، او د غږول له مصدر څخه (غږوونی) دغږولو د آلی دپاره وضع او استعمال کړو .

نوټ : که چیری د آلیت د معنی زیات اختصاص مقصود وی یه دي صورت کښې باید یه اول کښې یو خاص مفعول هم زیات شی لکه اوب شیندی او داسی نور .

داؤ داسم آلی یه بیان کښې یولنډ غوندی بیان

---

(۱) او که یه یو ذیروح شی دلالت وکړی نو هلته یا فاعلی صفت باله شی لکه مچ وژی سړی = مچ وژو نکی سړی . مګر د صفت فاعلی دپاره دا استعمال کم دی .

ژبني پوهني

(۹)

املاء

املاء هغه صنعت دی چه دهغو په ذریعه سړی کولای شی دیوې ژبې کلمې بې غلطیو ولیکی.

املاء یا دګرامر دقوانینو له رویه ټاکله کېږی او یا داستعمال اورواج دتقاضا په اثر - ځکه نو دوه رازه املاء شته: یوه پرقاعده برابره املاء او بله هغه املاء چه درواج او استعمال پراساس وی. پرقاعده برابره املاء هغه ده چه دګرامر دبعضو اساسونو مراعات وشی لکه توافق، دجمع علامه، په اسماو کښې دمؤنث تشکیل، صفتونه، دمفعولو اسمونه، مضاف الیه او نور ....

او هغه املاء چه درواج او عرف پر اساس وی تقریباً دګرامر هېڅ قاعدې ته غاړه نه ږدی او دا املاء د مشهورو او معتبرو مؤلفینو دآثارو له مطالعې څخه کسب کېدلای شی.

نو ویلای شو چه تلفظ، داشتقاق علم او پخپله داشتقاق صورت د مرسومی املاء اساس تشکیلوی داشتقاق صورت د کلمې دبیخ (اساسی جزء) دسمې املاء د شکل موندلو دپاره یوه عملی وسیله انسان ته ښیی. همدارنګه تلفظ او د ایتمولوژی (اشتقاق) دعلم اساسونه هم په دې قسمت کښې لازمه لارښوونی کوی او سړی دهغو په مرسته قیاساً سم او ناسم سره بېلولای شی. داچه داعام رواج پر کوم اساس باندی ولاړ دی په قطعی توګه نشی ویل کېدلای مګر سره له دې هم دیخوانیو معتبرو ادباو په پیروی او دعام استعمال دقدامت له حیثه داعتبار په سترګه کتل کېږی.

د تنقیط علامې

د تنقیط اصول ددې دپاره دی چه په تحریری بیان کښې داشارو درا وړلو په واسطه رڼائی خپره کړی او هغه روابط چه دبیان دتشکیلو ونکو برخو په منځ کښې په عمومی طور او دهرې جملې په منځ کښې په خصوصی طور موجود دی ښکاره کړی. همدارنګه د تنقیط اصول هغه وقفې چه دویلو په وخت کښې ئې باید مراعات وشی ښیی دتنقیط علامی په عمومی توګه شپږ اشارې دی:

۱: ویر ګول: Virgule یا چپه واو (که څه هم په اروپائی ژبو کښې دراسته «و» شکل لری مګر په شرقی ژبو کښې ددې دپاره چه التباس رانشی دچپه واو په شکل «،» استعمالېږی) ویر ګول یوه مختصره اولنډه وقفه راښیی او داستعمال ځایونه ئې دادی:

الف: دیوې جملې یعنی اسماؤ، افعالو، صفاتو او نورو جملو د مشابه قسمتو دجلاوالی دپاره راځی

لکه دا چه : را غله ، ولا ړه ، هېڅ ئې و نکړه !

ب : د هغو الفاظو د اجتماع په سر او پای کښې راځی چه وکولای شو بې له دې چه معنائی تغییر و مومی حذف کړو . لکه : دوست ، د خدای نعمت ، یو قیمتدار گنج دی .

ج : تر هغو کلمو وروسته چه د التفات پصورت راغلی وی لکه دا چه : زما زامنو ، یو دبل سره مینه ولری ، !

۲ : ټکی او ویرگول : (؛) یوه منځنی وقفه راښیی چه د یوې جملې د شبیهو برخو د جلاوالی دپاره خصوصاً د هغو برخو د جلا والی دپاره چه د مخه د ویرگولو په واسطه سره ویشلی شوی وی استعمالیږی .

مثال : زیار کښ سړی خپل معیشت پخپله گټی ؛ ټنبل سړی هغه غلا کوی .

یا : ښه کوه ، د خلکو به کست د رکیږی ؛ تر هغه لا ډېر ښه وکړه ، هغوی به هم ستا په طرفدارانو کښې شامل شی .

۳ : دوه ټکی (:) دا د شرح او بیانیې علامه ده او په لاندی ځایو کښې استعمالیږی :

الف : د جملې تر یوې برخی وروسته راځی چه هغه برخه د بل د قول له اقتباسه بیان کوی .

مثال : هېڅوک نشی ویلای چه : زه بالکل خو شبخته یم !

ب : تر هغې جملې وروسته راځی چه تشریح ئې وروسته بیا نیږی :

مثال : پرېږدی ، چه نا پوهان هر څه وایی ودی وایی ، پوهنه خپل قیمت نه بایلی .

ج : دیوه نمره وار بیان وروسته یا د مخه راځی نو که دا بیان د جملې تعداد شروع کړی او که ئې ختم :

مثال : زمونږ تاریخ په درو کلمو کښې خلاصه کیږی : زېږیدل ، زحمت ایستل ، مړ کېدل .

یا همدا جمله په معکوس صورت : زیږیدل ، زحمت ایستل مړ کېدل : زمونږ تاریخ په دې درو کلمو کښې خلاصه کیږی .

٤ : ټکی (.) یوه لویه وقفه راښیی او تر هغې جملې وروسته راځی چه کاملاً تمامه شوې وی .

مثال : د وظیفې سره عشق ، د هغې ستړیاوی سپکوی .

٥ : د پوښتنی علامه (؟) د هغې جملې په پای کښې راځی چه پوښتنه افاده کوی .

مثال : څه وایې ؟ چېری ځو ؟ څه کوی ؟

٦ : د ندا علامه (!) د هر ې ندا په آخر کښې او د هغو جملو په پای کښې راځی چه مسرت ، تعجب تحسین ، درد ، دهشت او نورافاده کوی .

مثال : رشتیا چه یو حقیقی دوست یو لطیف شی دی !

یا : واه واه ! ډېر ښه دی ! - یا : اوه ! څو مره ښکلی دی !

یا : آ ، زلمیه !

علاوه پر دې څلور قسمه نوری تنقیطی علامې هم شته چه هغه نو « قوسین » یعنی د وه قوسه ( ) غبرگ قوسونه « » خط کش (—) درې ټکی (...) دی .

دوه قوسه : د جملې له منځه یوه کلمه یا څو کلمې بیلول د دوو قوسونو کار دی . چه دا کلمې د جملې د حقیقی معنا د پاره لازمی نه وی او د دې د پاره هلته داخلی شوی وی چه کاملاً یو فرعی فکر را پیاد کړی

مثال : تاعون (ځکه لازمه ده چه پخپل نامه ئې یاد کړو) د ځناورو سره په جگړه اخته و .

اغبرگ قوسونه : دا قوسونه په تحریری بیان کښې د بل چا د قول د اقتباس په سر او پای کښې راځی او کله د هغه قول د هری لیکی په سر او پای کښې راځی .

مثال : ناپلیون ویلی وه : « محال د لیونو د قاموس لغت دی » .

خط کش : خط کش د مخاطب د ویلو په وخت کښې د ده دوینا تغیر ښیی او د « ده وویل » او « ځواب ئې ورکړ » او نورو ځای نیسی .

درې ټکی : درې ټکی د یوه بیان پرېکړه او یا ناتمامېدل افاده کوی :

مثال : ستاسی په باب کښې ... خیر دا به سبا تاسی ته ووایم .

(نور بیا)

داعلی ناول خصوصیات

(۱۱)

دښاغلی سید احمد خان (مفتون) ترجمه

(۱) ناول به دلوستونکی خیالات اوافکار له نوروخواؤ څخه را گرزوی اوخاص ځانته به ئې متوجه کوی .

(۲) دناول دبحث موضوع به خاص پخپله انسان وی .

(۳) قصه به پرصداقت او رښتیا مبنی وی .

(٤) دناول واقعات دې په ډرامائی طریقه سره وړاندې شی .

(٥) په ناول کښې د الفاظو او د معانیو په منځ کښې باید ښه تناسب موجود وی .

(٦) دناول واقعات دې په مأنوسو او مستعملو الفاظو سره ولیکل شی .

هغه ناول چه واقعات ئې په داسی طور سره وړاندې شی چه دناول لوستونکو افکار ځانته را جذب کړی اعلی ناول دی ، ځینی لیکونکی غواړی چه ناول داسی دلچسپه و لیکی چه دلوستونکی نظر او فکر یوه لحظه هم د قصې له اشخاصو څخه لری نشی لکه میرزا رسوا چه په خپل ناول « سرگذشت امراؤجان ادا » کښې ښار په ښار په امراؤباندی چکروهی او لرو بردمنازلو نقشه په مختصر والفاظو سره اخلی ، و روسته له چکره بېرته اصلی موضوع ته را گرځی .

داد لیکونکی لیاقت دی چه بې له صریح بیانه خیالی دریابونه ، طبیعی منظرې او دسړك دغاړی عمارتونه دلوستونکی په ذهن کښې را ولی . اودامحاسن داشخاصوله مکالمې څخه پیدا کېږی .

هر کله چه مونږ په ناول کښې انسان اوانسانیت ته په ټولو اشیاوترجیح ورکوو نوضروری ده چه دناول دقصې اشخاص دې هم له دغې نوع څخه وی او له دې سره دی تعلق و لری ، داسی نه چه دا اشخاص دد ېوانو اوپېریانوله طائفی اویا دنورو وحشیانو له نوع څخه وی .

لکه چه د انسانی اشکالونه ماوار پدنیا کښې بل شی دمطالعی وړندی دغه رنگه دانسانی کردار اتو او احساساتونه ماسوا بل هېڅ شی دتماشې وړندی .

دپخوانو افسانه لیکونکو دبحث موضوع به دیوان اوپېریان وبیا مذهبی اوروحانی کسان ؤ ، اوڅه زمانه وروسته پاچایان او شاه زادگان ددوی دبحث موضوع شوه لیکن د عصر شاعرانو د بحث موضوع فقط ساده انسان دی . حقیقت ته که نظر و کړونو دا سوال پیدا کېږی چه له پرښتو ، ولیانو اوشازادگانو څخه کومه طائفه کولی شی چه ددو و مینو هغه قصه چه له صداقتو نو څخه ډکه وی په داسی طور سره بیان کړی چه زمونږ دجذباتو او احساساتو فطری نقشه وباسی؟

عمده ناول دلوستونکی په زړه کښې یو داسی احساس پیدا کوی چه ددنیا دتهذیب دپاره یوه ذریعه شی اوپه عام طور سره ورته همدردی ویل کېږی . ددې محیرالعقول فن د عظمت اندازه به هغه څوك کولی شی چه په انسان کښې داحساس او د بصیرت پیدا کولو دپاره لوی لاس لری . دا کار نه دمصور له لاسه پوره دی اونه دموسیقی دان . ځکه چه مصور یوازې دفطرت شرح کولی شی او موسیقی دان صرف په انفرادی طور سره دانسان حسیات متاثر کولی شی . ددې خاص حیثیت له نقطهٔ نظره تنها شعر له ناول سره سیالی کولی

شي او مسلمه ده چه برقي قوت دناول په نسبت په شعر کښې ډېر دی مگر کوم کیفیت چه په ښه شرح او تفصیل سره ناول بیانوی داطاقت په شعر کښې نشته بلکه داطاقت خاص دناول برخه ده .

دناول بل داخصوصیت دی چه له صداقت اورښتیا څخه ډك وی ، او لدې صداقته هغه صداقت مطلب دی چه ارسطوور ته شعری صداقت وائی . د ناول نگار له نظره د انسانانو مختلفې نسخی تېر ېږی نو باید هغه نسخه چه په ناول کښې داخیستو وړ وی واخلی او چه نه وی پری ئې زدی . داسې نه چه قلم واخلی او هر څه ولیکی - په هر هره انسانی نسخه کښې یو خاص قسم فطری صداقت موجود وی چه پېژندل ئې دیو دانا او مبصر ناول نگار کار دی، ناول نگار لره ښائي چه هره نسخه په خپله درجه کښې و پېژنی او پر جماعاتو ئې سره وویشی او په هر ادنا صداقت یوه هسکه مانۍ جگه کړی چه دلوستونکو په دماغو کښې دعلاؤ الدین دقیصر نقشه وایستله شی . دد نیا ورځنی ژوند که هر څو په ډر امائی طرز سره ندی لیکن ناول نگار کولی شی چه د مبالغې په زور ډرامائی جامې ور واغوندی په ډرامه کښې د هیڅ چا کردار دهغه له حقیقی ژوند سره مطابق کیدای نشی مگر په کوم وخت کښې چه ایکټر صحنې ته خېژی نو یو ساده لیك په مخصوصو حرکاتو سره داسې لولی چه درست سیل بینان ورته متوجه شی دغه رنگه په ناول کښې هم چه هر کله دقصې ارتقا ودرېږی نو باید چه ناول نگار اسبابو ته زور ور کړی او واقعاتو ته دمبالغې ، جامې ور واغوندی . او غیر ضروری واقعات له نظره وغور ځوی. که ناول نگار و غواړی چه د کومې موقع اهمیت بیان کړی باید د اشخاصو حرکات ، ددوی د آوازو لهجې هم قلم ته وسپاری . دښه ناول یو بل خصوصیت هم شته چه دشعر ، رسم او موسیقی په مثل باید صرف دلیکونکی دخیالاتو حامل نوی بلکه دلیکونکی او لوستونکی د دواړو دخیالاتو حامل وی - لکه چه دیوه شعر تعبیر هر سړی له خپل خیال سره مطابق کوی دغه رنگه ډېر کله پېښېږی چه ناول نگار به یو څو ساده واقعات لیکلی وی مگر دلوستونکو خیالات تر هغه دلوړی درجې مفهوم ته رسېږی .

لکه «مرآة العروس» نامی کتاب چه خاص دنجونو دتعلیم دپاره لیکلی شوی دی لیکن نن ورځی په افسانوی ادبو کښې بهترینه سرمایه حسابېږی.

په حقیقت کښې الهامی قوت هم په شعر کښې یو قیمتی جوهر دی ، دژبې له اعتباره باید چه په ناول کښې داخصوصیت وی چه که په غور سره ولوستل شی دژبې له اسرارو سړی ښه واقف شی .

دالفاظو ښه استعمال او ښه ترتیب داسې شی دی چه که په لوستونکی کښې دتحصیل ماده وی نو په ژبه کښې به ښه مهارت حاصل کړی . بله داده که چېری ناول پر حقایقو مبنی وی نو باید چه له کافی معلوماتو څخه ډك هم وی چه دلوستونکی دماغی وسعت پسی ښه وسیع کړی دانه چه دهټن په قول لوستونکی ته خو د بینی ورزیاته کړی .

دا دناول مهتم بالشان خصوصیت دی چه دلوستونکی ذهن داعلا مقاصدو تحصیل ته متوجه کړی - ځکه چه سطحی قصې په سړی باندې هیڅ اثر نشی اچولی .

کره کتنه

د کابل ۱۷۱م گڼه

تر عنوان وروسته: پښتانه وائی «سیل بین د نخښې منځ ولی» رشتیا چه د نخښې ویشتنه د تماشا په ټوپك اسان کار دی او خطا کېږی نه. داسی ستاسی مجله مخ ته ایښو دل، او قلم را اخستل، او د انتقاد په لحاظ یاد داشتونه کول او بیا یو مضمون لیکل ډېر گران کار نه دی؛ او تاسی هم داور پرانیتی، او ټولو ته موست وسلا کړی ده. دادی ماهم دا کارو کړ او مضمون مې در وا ستاوه خدای دې کاچه ما د نخښې منځ ویشتلی وی او که د تماشا له دیدوانه هم غلط شی نو پو هو!!

ستاسی مجله په عمومی ډول دستاینی او قدر وړده یا عجالتاً د پښتو په محفل کښې دا ایکی یوه ډیوه بلېږی چه اصطلاحاً «محفل چشم چراغ» ورته ویلی شو خو خدای دی تاسو ته توفیق در کړی چه دا ډیوه بله وساتی، ورڼا ئې درنه خړه پړه نشی او د ډیوی د تیلو سره چه (د مجلی مضامین دی) د پردو د ادب د سوء تقلید او به گډې نکړی، او یا کمزوری اور دی مواد استعمال نشی که نه د ډیوې رڼا به مومړه مړه او چټېږی او عمر به ئې د پتنگانو له ژوندانه نه مخکښی پای ته ورسی.

راغلو اصل مطلب ته چه هغه ستاسی په (۱۷۱م) (۱) گڼه باندی یو سطحی نظر دی.

په دې مجله کښې اول دواسعی صاحب ترجمه (د علم احسان او ورکړه) یوه ښه موضوع ده؛ داسړی د تراجمو د پاره علمی، اجتماعی، فایده مند مضامین انتخابوی داسړی لکه له آثارو چه معلومېږی په موجوده لیکوالو کښی نسبتاً ښه مترجم، او له پخو لیکوالونه حساب سړی دی. خو ارمان ارمان چه داسی یا خه خلك هم لاتر اوسه د ترجمې له تاثیره نه ؤ ځی او داسې جملی (د بیکاری سبب وگرزید، د ضعف علت وگرزید) لیکی. بل خواه موقوفه جملات په پښتو نثر کښې ډېر درانه او کچه ښکاری او مخصوصاً هسی جملات چه د ټولو عطف یو خبر نه نشی کیدلای په هغه کښې وقف او محض ورکول، ایښوول له ذوقه ډېره لری ده که زما منی؟! راشی، چه له دې ځان وژغورو او هرې جملې سره خپله ربطیه ولیکو.

په دغه مقاله کښې یوه جمله داسی لیکل شوی «پر اجتماعی ژوندون د آلاتو اغېزه، او تاثیر په اوسنی عصر کښې خورا ډېر شوی دی» ښه! نو (ډېر شوی دی) که (ډېره شوې ده)؟.

آخر اغیزه او تاثیر خو ځمکه، اسمان نه ؤ. چه د اقتضاء مطابق به خواه مخواه په یوه جمله کښې او یو ځای راتله او داسی مغشوشه صله به ئی اخستله. داسی موارد وی چه ذوق لغزش کوی او مضمون زیږ او غوټن راځی دلته باید یوه کلمه را اخستل شوې وای او (شوې ده) یا (شوی دی) یې لیکلی وای.

(د بلوغ د دوری تاثیر) تر عنوان لاندی د سعید اقتباس یو ښه مضمون ؤ؛ د دې پوه او فاضل لیکوال نفسی او تربیوی مضامین زه کله کله مجله کښې لولم او ده ته په زړه کښې تحسین ورکوم خو په دی مقاله کښې ورسره

---

(۱) زما په عقیده په داسی مواردو کښې باید دارقامو په مخکښې یو ووړ میم ولیکل شی چه د دو هم دریم امتیاز دوه درې ... نه راشی.

یوه لفظی نزاع، او یا په الفاظو باندی- جنجال شته !

دی لیکی «د بالغو کمکیانو په گوگل کښې ډېر چرتونه او اندیښنی گرځی را گرځی» یو خو بالغ ته بیا څوك کمکی نه وائی، بله دا چه اندیښنه او چرتونه په سر کښې هلته دننه مغزو کښې (دماغ کښې) گرځی را گرځی گوگل کښې څوك چرتونه نه وهی.

هو! د پښتو محاوره کښې لا څه چه په ډېرو ژبو کښې داسی غلطی شته او خلك ئې صحیح گڼی مونږ همیشه وایو (په زړه کښې می دا خبره گرځی) او داسی نور.. خو لکه چه دا مضمون یو علمی او جدی مضمون دی او له بلی خوا یو نفسی او تر بیوی بحث دی او ددې علم او د وظائف الاعضا په منځ کښې ډېر قوی اختلاط او التزام سره شته نو یکارو چه دلته لیکونکی له عامیانه محاوراتو ځان ژغور لی وای عوام هم د فکر، سواد، اندیښنو د پاره زیات سر ته گوته نیسی او وائی (په سر کښې دی څه خیال دی څه فکر دی) ...

په دې مقاله کښې طباعتی ظلمونه هم څو ځایه شوی لکه (دوره کړی) چه دا به ظاهراً (دوره کښې) ؤ، او د فلانیانو (وظیفه تر پخوا ډېر غټېږی) چه دا به (ډېره غټېږی) وه، او (خبره دهغې ژوبلی ته ونه رسېږی) چه دا به نو (وهنی ژوبلې) وی.

طباعتی غلطی. می په مجله کښې څو ځایه نور هم تر ستر گو شوی خو پسی نه گرځم یوازی (د ځینی نسخو نوی معلومات) مقاله چه په یوه صفحه کښې تر پایه لیکل شوی او بیا نو نه (نور بس) لری او نه (نور بیا) او نه بلی صفحې ته مراجعه د ذکر وړ خبره ده !

خو خیر د غه وخت د چا ډېره تادی وه او دا کار به تر ې پاته شوی وی. د مجلی شعری برخه هم تر پخوا ډېره ښه وه او د ځلمو شاعرانو مضامین د غوره کولو وړ و، یوازی د (نه پوهېږم) تر عنوان لاندې منظومه کښې په دا یوه بیت ځه هم نه پوهېږم هغه دا چه:-

(د لیلی وصل که غواړی ځان مجنون کړه :
مازده کړی دا هنر دی نه پوهېږم) یعنی څه ؟! دا که څه محذ وفات لری او بیا هغه ورسره یو ځای شی بیا به نور دیف معنی ور کړی خو (المعنی فی بطن الشاعر)

یو مضمون می ولوست چه عنوان یې دادی (څه وکړم چه شاعر نه یم) ماویل گندې دا هم داسی سوال دی لکه هابل سړی چه کړی وچه (سړی څرنگه شاعر کېږی ؟) که داسی څه وای خود اقتراح ځواب دده د پاره کافی و او لا ما به هم ورته ویلی و چه هېڅ مه کوه! او د سره شاعر کېږه مه !! منگر ددې سړی خبرې جدې وې او مضمون انتقادی رنگ درلود، داسی خلك چه پخپله انتقاد کوی د بل په انتقاد به هم نه خفه کېږی، او چه خپله ئې زده د بل به هم اوری.

زه به ده سره اول د گلو د غلا د دعوی مرافعه وکړم.

دا د گلو غلا خو څو کرته یاده شوه او لکه چه بل چا هم ورته ښه نه وویلی، گمان کوم دا زمونږ ملك کښې ددې عصر دامنیت او قراری- تاثیر دی چه خلك غلا دومره بده گڼی چه دادب له دنیانه ئې هم وباسی دې ناقدینو ته که د شعر غله، د مضمون غارتگران په لاس ورکړی گمان کوم (که لاسونه نه وی) گوتی خو به تر ې پرې کړی نو عجالتاً بهتره ده، الفت ته نصیحت وکړی چه نور دې د گلو غلا پسی نه ځی یو خو به د عمومی باغونو انتظام وساتل شی او بل خوا به دی پخپله له جنجاله خلاص وی. اما د موضوع د څېړنی په لحاظ اول باید منقد پوه شی؛ ځکه چه هر مملکت، هر ملت ځان له عادات، قوانین، اطوار، رسم او دستور لری داسی هم هر فن ځان له مصطلحات، گوښې ژبه، جلا حدود لری.

که د یوه قوم محامد د بل قوم په نظر ذمایم وبرېښی او د هغوی اجتماعی وجدان له هغې نه کر که او نفرت وکړی. په هابل قوم دا څه تاثیر نه کوی او نه د هغوی په اجتماعی ضمیر څه تاثیر اچولای شی.

هو هغوی قبائح او محاسنو ته د خپلو عاداتو اخلاقیاتو او دودونو دستورونو په عینکو گوری او هغوی ښه او بد هم په دغه موازینو سنجوی.

که د لته یو مهذب انسان د بهر د معاشرتی آدابو مخالف کار وکړی او مثلاً کوټې ته در اننوتلو په وخت کښې د سر په عوض پښې لوڅی کانو څوك بدنه ورته وائی او ورپوری نه خاندی.

نو داسی په شعر باندی هم یو مقنن یو منطقی اعتراض

نشي کولای . که تاسی شعر راواخلی او د منطقی له عینکو ئې وګوری، او منطقی تحلیلات پکښې وکړی. دادب داستا د انو ټول دوا وین ، دشعر ددنیا ټول شاهکارونه به ایسته وغور ځوی. او یوه غټه چلیپا به پری وکاږی، که تاسی دشعر اوزان په کیمیائی تلووتلی، ؛ که تاسی شعر دیوطبیعی (فزیك دان) په حیث دتحلیل او تجزیې لاندی ونیسی شعر به رد کړی، او شعراؤته به ناپوهه ووائی .

منګرنه ! دشاعر منطق ګوښی اوجلاوی شعراو خطابه پخپله منطقی تصمیما تو کښې ځان له موقع اشغالوی دشاعر برهان دبدیهیاتو، مجرباتو ... په عوض خیالیات ، استعارات ، او تشبیهات لری دشعرطبیعیات ټول دشاعر د خیال موالید او عناصر دی اوپه تجربه او منطق نه دی مبتنی ، ددوی سیبی (صدف) دپسرلی دباران خاڅکوته خوله نیسی او له هغو قطرو باراخلی او بیا تری مرغلری جوړیږی منګر شاید مثبته علوم ددې نظریې ملګرتیا ونه کړی او نه کومه استقراء (که ناقصه هم وی) په دې باندی دلالت کولای شی.

ښه نوشعر ته به په څه سترګه ګورو اوپه شاعر به څوك انتقاد کوی ؟

شعر ته به دشاعر په سترګه ګورو ! اوپه شاعر به شاعر اود ذوق خاوند اعتراض کولای شی ! په فارسی ادب کښې دغلاد جواز یوه مشهوره استفتارا یاده شوه.

دیوان ظهیرفاریابی - درکعبه بدزد ! اګربیابی

مګر په دې فتوی چاتر اوسه اعتراض نه کاوه دا ځکه چه شعری معایب اومحاسن خلکو دذوق په محکمه کښې معلومول . نګاه د زدیده لاپرېږده په دې ادب کښې دقاتلانو ، دعقل اوهوښ دغارتګرانو، دبی وفا او هر ځائی معشو قوستاینه کېږي او دشعر د دنیا سروکار همیشه دداسی جنایاتو سره دی .

راځی،! مونږ به دخپل دی منقد سره دحقوقوله پلوه په بحث کښې ګډ شو .

دیو حقوقی په نظر کښې هم دګلو غلااو د دنیا (پولې ، پټی ، پیسو) غلافرق لری اوهغه دواړه یوراز ملزم نه ګڼی دالاڅه کوې ددنیا دغلو (په هغه معنی) په منځ کښې هم تفاوت ته قایل دی دغه حقوق دانان اوډ اکتران دغله عقلی او روحی کیفیت اضطرار او اعتیاد ، ظروف او موارد دنظر لاندی نیسی او پرهغې ددغوعللو عواملو دتشخیص نه وروسته (دروند ، یاسپك) حکم کوی.

دا منقد په یوبل بیت اعتراض کوی هغه دا چه (چه واړه ئې غولوی په هغه دغه + که په بریتولاس وهی هم صغیران دی)دلته دده اعتراض موردنه لری ځکه چه په دی بیت کښې (واړه)فاعل (ئې) ضمیردی چه مفعول ته(بریتو روته) راجع کېږی (غولوی) فعل دی نومعنی دا چه واړه پاڅی او یوسړی چه له ډېره رشادته په بریتولاس وهی وغولوی نو دغه ځلمی یاپوخ سړی صغیردی . (د کابل ۱۷۰ م ګڼه) په دې مقاله کښې کم ځای چه ښاغلی اغزی دخادم خوار په سترګو کښې ننو وځی او د هغه په پیڅو پوری نښلی اووائی چه «دقصې پهلوانان متاثرنه دی ښودل شوی» په دې عبارت چه « فلانی را شه عجیبه ټوکه دروښیم » اعتراض لری چه (ایایوپلارته ددرو وړو زامنو مرګ څه ټوکه ښکاری ؟)نه هیڅ پلارته ټوکه نه ښکاری. (ټوکه)د حادثی په معنی هم په پښتو کښې معموله ده اوبل دا چه د داستان پهلوان ددې عبارت په وسیله چه دقصې خاتمه ده یوراز مبهوت اومتحیر ښودل کېږي چه ګندې له فکراوحواسونه بیګانه شوی انسان دی چه داسړی دی نولیونی شوی وی اودابه دلیو نتوب دزمانی لمړی خبره وه چه دده له خولی وتلی وی شاید اغزی به دې ته دشاعر دګیډې معنی وائی منګرښه داده چه اغزی دی دګیډې سره کارنه لری غیرله شاعره زه له دې مضمونه داسی پوه شوی یم اودامعنی مې تری اخستی ده

(دملګر وخبرې اترې)ددې عنوان لاندی تاسی پس له دې لکه چه داسی مطایبات چه لنډشان دیالوك وی دنظر لاندی نیولی اوښه فکر موکړی دی او پسی تعقیب ئې کړی ! ! منګر په دغه مضمون کښې نوروزخان آخر کښې ډېر جدی شوی واو مضمون له ټوقی نه زیات هسی مقالې ته (چه په محاورا تولیکل شوی دی)پاته کېده .

معلومه شوه چه دصحافت څانګه په ټوقه نه پوهېږی او دهزل نه دجد خوانه زیاته اڅه کوی منګر خیر دادهغې دپاره څه عیب نه دی ! په پای کښې به ضرور لوستونکی پوښتنه وکړی .

— ته څوك ئې ؟

زه به معمولاً ووایم.

زه یم(زه)امضاء(زه)

تېره ګڼه

ښاغلی کجور وال

دکابل (۱۷۱) ګڼه مې ولیدله ، چه وقایه ئی راواړوې دورکی رڼا له عنوان لاندې یو شعر دی چه دشرق او شرقیانو فلسفی او عمیقو فکرونو ته اشاره کوی او سړی پوهوی چه ددوی پوهان په ډېرو موهومو تیارو کښې ماوراءالماده ورکی رڼا وې لټوی او بې له دېنه چه له یوه عرفانی حیرت سره مخامخ شی او خپل ځان ورك کړی نور هېڅ نه مومی ، وروسته تردې سړی ته وائی چه سکندر هم یو وخت په همدغسی تورتم او ظلماتو کښې دحیات اوبه لټولی مګر پیدائی نکړی او په دې تورتم کښې بی له خضره بل رهبر نه په کارېده دیونان هېڅ فلسفی په دې تیاره کښې رهبری نشوه کولی سکندر ته وویل شوه یا پخپله وپوهېده چه کامیابی او دهوادونو فتح پدی لاره کښې نشته ، داورك فکرونه بایدار سطو او افلاطون ته پرېښودل شی چه له دنیا سره هېڅ غرض نلری او بی له علمی او عرفانی شهر ته نور څه نه غواړی ، ته ولاړ شه جهانګیری وکړه او په افلاطونانو هم حکومت کوه .

پدې شعر کښې ښائی چه له نظری دنیا نه عملی دنیا ته راګرزول او په فلسفه کښې دالهیاتو له خوانه طبیعیاتو ته مخه کول مطلب وی.

بله پاڼه چه راواړوی په سر مقاله باندی ستر ګی لګیږی چه (دژبی سیندونه لیکل) ئې عنوان دی له همدې عنوانه سړی پوهېږی چه دمجلی اول ټکی او دبدلی سرله ژبنیو څېړنو او مباحثو څخه شروع کیږی او د کابل دمجلی په تندی کښې دپښتو پاللو او روزلو فکر لیکل شویدی ، پدې مقاله کښې ښاغلی حبیبی اول دا وائې چه دیوې ژبی قاموسونه لیکل او لغات راغونډول ډېر عمر او ډېر وسایل غواړی ښائی چه دده غرض به پدې خبره کښې داوی چه تاسی (اې د پښتو د ترقی منتظر ینو !) ما او پښتو ټولنه مه ملامتوی ، چه دوی څه نه دی کړی یا څه نه کوی ځکه چه دا کار دڅو ورځو کار نه دی ، وروسته تردې بیا په ښکاره او د (فان قیل قلنا) په ډول وائې : - چه تاسی به ووایاست چه دا خو د پښتو ټولنی وظیفه ده نو چه تاسی کار نه کوی ، له نورو څخه ګله نشته ، مګر دا خبره هم ډېره منطقی نه ده ځکه چه دژبی جامع قوامیس لیکل دیوه یا دوو درو تنو کار نه دی ، پښتو ټولنه یوه د لغاتو څانګه لری چه درې څلورتنه کار پکښې کوی ، دوی چه هر څونی کلمات او لغات ټولولای شی ټولوی ئې تر اوسه چه مونږ په دغه خپل چاپیر کښې لاس وپښی وهلی دی تقریباً دشلوتر (۲۵) زرو لغاتو خاوندان شوی وو مګر له تجربو څخه راښکاریږی چه داژبه خوراډېر ورك مواد لری چه ټولول ئی هم اسان کار نه دی که څه لیری ولاړ شو او دغرو اورغو په کښتو ژورو کښې وګرزو زه یقین لرم چه په سل کښې شپېته مواد دضبط قابل دی او داژبه دستی په دستی ترسلوزرو پوری مستعمل او ژوندی امامنزوی لغات لری د ښاغلی لیکونکی په خبرو کښې بالږفکر وکړو او وبه ګورو چه مونږ پری قانع کیدی شو که یه ، پښتو ټولنه دپښتو کار څنګه چه ښائې هغسې کوی که نه؟ پدې کښې هېڅ شك نشته چه ددې ټولنی نفری له کار سره علاقه لری او دا کار خپله داسی وظیفه بولی چه شپه او ورځ ئې په فکر کښې دی او دیو ډول عشق په مرسته دا کار کوی ، که سړی ددوی اثار او کتابونه د کارد اشخاصو له تعداد ، وسایلو او وخت سره مقایسه کړی پوهېږی چه دوی لاس تر زنی نه دی ناست او کار ئې کړی مګر دا کار که څه هم مفید دی او دپښتو په درد خوری بیا هم دیوی نقشی په اثر نه دی شوی او داسی نه دی شوی چه پښتو ټولنی پنځه کسه پوهان او دپښتو خواخوږی دهوا د مشران بللی وی چه تاسی دپښتو ټولنی کارونه دیوې نقشې او پروګرام په ډول دپنځه شپږ کالو دپاره ترتیب کړی ، چه پښتو ټولنه هغه تعقیب کړی او کال په کال دا معلومه شی چه هغه نقشه کوم ځای ته ورسېده ؟ دې ټولنی خپله وظیفه څنګه چه انتظار کېده هغسی اجرا کړی

که نه؟ نو هیچا به په پټو ستر گو اوبی سنجشه دانشو ویلی چه پښتو ټولنی څه نه دی کړی یا پښتو پر مخ نه ده تللی ځکه چه مخی به په شماروي او د کار حساب به معلوم و، چا به ناحقه پړه په چا نشوه اچولی او کار به هم د خپل ضرورت او اهمیت له مخی په مخ تللو.

دا اوږدې قصې به زه په همدغه ځای پر ېږدم او د ځینو په اصطلاح په معقولاتو کښې به ډېر دخل نه کوم رابشم د حبیبی صاحب خبری ته چه وائی که څه لیری ولاړ شو او د غرو رغو په کښتو ژورو کښې وگرځو زه یقین لرم چه دا ژبه دستی په دستی ترسلو زر و پوری مستعمل او ژوندی امامنزوی لغات لری، او اوس زمونږ په لاس کښې یو نسبتاً مفصل قاموس دی چه د پښتو تقریباً پنځه ویشت زره لغات لری.

نو هر کله چه مونږ په یو څه لیری تگ خپل پنځه ویشت زره لغات دستی سل زره کولی شو نو ولی ئی نه کو و؟ که لیری ولاړ شو څه لیوان خو به مو ونه خوری او نه به مو پښی له رگه شی، دا سل زره لغات خو مونږ ته په سل زره روپو هم دومره ارزانه دی چه حتی د کنترول مدیر به هم پکښې څه ونه وائی، که ووایو چه د لغاتو ټولولو سړی نشته خو هم شته دا کار که د لغاتو شعبه اجازه ور کړی د نو رو شعبو خلق ئې هم کوی او کېدی شی چه یو عکاس هم سړی له ځانه سره ملگری کړی.

زما مطلب دلته دادی، څوک چه د پښتو ټولنی د کارو ذمه وار او کفیل دی هغه کولی شی چه خپل معقول او صحیح پیشنهادات هر وخت مرتب کړی او دواک خاوندانو ته ئې وړاندی کړی، کوم دلایل چه لازم او ضروردی په منطقی او معقول ډول ئې ووائی او د خپل کار بېړی په مخ بوزی، د پښتو د پیشرفت له مخی هر راز مشکلات رفع کړی.

زما خپله شخصی عقیده داده چه د پښتو ټولنې مهم اشخاص د لغاتو، محاورو، راز راز تراکیبو او اصطلاحاتو په ټولو لو پسی واوزی او د پښتو له مناطقو د پښتو د ادب غوره نمونې، ضرب الامثال، اعلام، څه او څه په صحیح ډول راټول کړی ځکه چه داشیان د ژبی اولی او اصلی مواد دی او د ژبې د ارتقا اساس پرې بنا کېږی.

د پښتو ټولنی په تشکیل کښې کله چه شعبی جوړېدلی یوه سیاره څانگه هم وه چه شاید هغه د همدې ضرورت د پاره په نظر کښې نیول شوی وه مگر وروسته ئې کوم خارجی وجود پیدا نکړ او دې خوا ته هېڅ توجه و نشوه څوک چه د ډېرو څانگو او شعبو طرفدا روی احتمال لری چه هغه سیاره څانگه ډېره مهمه وبولی او دا ضرور وگڼی چه کال په کال باید دوه دری تنه په دغی ادبی درویزې پسی کچکولونه واخلی او کلی په کلی دا خبر وغواړی.

د مجلی په (٤) گڼه کښې د علم احسان اوور کړه چه له عربی څخه اقتباس شوی ښه مضمون دی د ځینو سطحی معلوماتو خاوندان چه د دې عصر علمی او صنعتی پیشرفت ته ښه نه گوری او د عوامو له ذوق او فکر سره سم دغه پر مخ تگ بد معرفی کوی لکه چه ځینی کسان وائی چه (ډاکتران ډېر شوه مرضونه هم زیات شوه، پخوا چه ډاکتر نه و، دومره مرضونه هم نه و) نو په دغه مقاله کښې د داسی کسانو د پوهولو او د علم د ښه ښو دلو کوښښ شویدی او په دغه موضوع کښې ورته یوه متوسط مقاله ویل کېږی.

په ۹ مخ کښې د بلوغ د دوری تاثیر ښه مقاله ده مگر د دې لامله چه زیاته برخه ئې په بله گڼه کښې نشر شوې نو په دې روستنی برخه ئې څه تبصره نشم کولی.

د ادبیاتو له کلیشی لاندی ډېرینه ښکلا یو شعر دی چه عارفانه رنگ په کښې لیده شی، دا شعر یو متین معنوی خوند لری او شعری پیرایه ئی هم ښکلی ده د دې شعر له لوستلو سړی ته د شیخ متی او بیټ بابا مناجاتو نه یاد میرزا او دولت عارفانه سندرې یاد ېږی، پدی شعر کښې غیر له دې مصر یو څخه: -

(دا جهان ئی ارایش کړ - هر یو شی ئی پیرایش کړ)
(د جهان په ننداری شوې - هر څه دی ښایسته کوله)
(حسن کشف شود ډېری - چه پرتی وی لرو بری)

نورد گوتې اپښید و ځای نشته.

دوینا او خطابی مضمون: د مجلی له مسلک سره مناسب شی دی او په ادبی فنونو کښې ضروری بحث دی

داد بیاتو په تاریخ کښې دتحریری لهجو مقام ښه مضمون دی خوډ پرلنډ ، مگر دا سلسله ښائی چه د لیکونکی په نظر کښې د یوه تالیف په صورت جوړه شوی وی او دغو عنوانو ته همدغو مره برخه ټاکل شوی وی ، نو پس له دی چه دا سلسله تمامه شی سړی بیا قضاوت کولی شی چه دا بحثونه لنډ او که کافی دی اوس یوازی همدو مره ویلی شو چه دا دبیاتو تاریخ لیکونکی ته ښه دلچسپی لری ، او په ډېر ولیونی خوښ دی.

په پښتو کښې دنوروژبو دالفاظو قانون : د غسی بحثونه ددی مجلی ډېر مهم او اصلی موضوعات دی ، نو چه دغه بحثونه دښاغلی رشتین له قلمه وی چه په گرامری مسایلو کښې له او له درجه یوهانو څخه حسابېږی لا ډېر اهمیت پیدا کوی او ددې باعث کېږی چه دا مجله په آینده کښې دهغو کسانو دپاره چه له ژبنیو مباحثو سره علاقمندی لری یو ښه ماخذ شی.

د کابل (۱۷۰) گڼه : دمجلی دغه انتقادی او تبصروی برخه چه په هره گڼه کښې ډېره دلچسپه برخه ده ، د کابل د مجلی او د صحافت د څانگی دسږکال ډېر مفید او ښه اقدام باله شی او دادب په اوپالنه روزنه کښې ډېر مهم تاثیرات لری ، دامضمون چه دا ځل ښاغلی اغزی لیکلی و ، په آخره کښې دومره خوږ شو چه څه به در ته وایم ، کوم ادبی انتقادونه ئی چه غیر له طباعتی غلطیو په مضامینو باندې کړی و ، ډېر باریك او خوازه و ، په یوه نیم انتقاد کښې ښائی چه زه ورسره ملگری نشم او کوم وخت ئی لا تردید هم وکړم مگر ځنی انتقادات خوئی داسی هم وچه سړی ورځنی ډېره استفاده کوی او په انتقاد کښې عجیبه ټوکی سړی ته ورښئی. دغسی د گلو اغزی دې نور هم خدای زیات کړی او تل دې تېره وی .

په ۴۲ مخ کښې یو ښاغلی لیکی : - څه وکړم چه شاعر نه یم ، دی لا شاعر نه دی او شعرو نه داسی ښه اصلاح کوی یو ځای وائی چه که دا بیت : - (چه واړه ئی غولوی په هغه دغه - که په بریتو لاس وهی هم صغیران دی) داسی اصلاح شی : که په بریتو لاس وهی هم ناځوانان دی - ایا تر دغه به ښه نه وی ؟

رشتیا خبره داده چا ته چه خدای یو کمال ورکړی وی هغه نه پټېږی ، که دی سل ځله وائی څه وکړم چه شاعر نه یم بیا هم خپله شاعری نشی پټولی او معلومېږی چه د شعر په نقص څو مره ښه پوهېږی او څنگه ئې ښه اصلاح کوی !!!

خو دومره خبره ده چه دې لږ غوندی سهو شو یدی او ددغه بیت معنی ئې بل راز کړیده دی وائی : د لته دصغیر نسبت ود غسی سړی ته چه خلق غولوی دبلاغت له اصولو سره به سم نه وی ولی چه صغیر خو کورټ بېگناوی او دالوی گناه کار نو څه نسبت ورسره لری ؟ زه که څه هم دبلاغت په اصولو دومره نه پوهېږم مگر پدې پوهېږم چه ددې بیت معنی دا نه ده چه دغه سړی نو لوی گناه گار دی او خلق غولوی بلکه مطلب دادی هغه لوی چه واړه ئې غولوی لوی نه دی صغیر دی که څه هم په بریتو لاس وهی او ځان کبیر بولی. دغه هوښیار لیونی چه نه پوهېږم هماغه ترین دی که دهغه څه کېږی یا هسی د خدای دپاره ورځنی مدافعه کوی له بمبارۍ څخه زیات وېرېږی مگر پخپله بمبارۍ کوی او وروسته تر یوه نری اعتراضه چه په ښاغلی حبیبی ئې کوی. راځی او د (گلو په غلا) اعتراضونه شروع کوی ، ددې مسرې په نسبت (ددنیا غل مې مه گڼه د گلو غلا پسی ځم) وائی رشتیا هم دا ده چه داسی ناوړی خبرې ولی زمونږ په ادبیاتو کښې ځای ونیسی ؟ بیا څو کرښی وروسته لیکی چه دغسی کسان (چه دعشق په اثر کښې د گلو غله شی) دعاشقانو په ډله کښې شرعاً او اصولاً نه شمېرل کېږی ، دعشق لوړ مقام چېری غلا چېری ؟ دهر چا رایه ازاده ده او هر څوك په ادبی مسایلو کښې هر څه ویلی شی ، زما خو دغه شاعرانه اصطلاح چه په ادبی تعبیراتو کښې راته ابتکار معلومېږی دومره خوښېږی چه که کوم وخت زه دالفت په شعر وشاعری تبصره کوم نو دا ادبی تعبیر به ئې یا دوم ځکه چه دی پدی مصرع کښې (ددنیا غل مې مه گڼه گلو غلا پسی ځم) اهل دنیا او عشاقو ته اشاره کوی او سړی یو هوی چه هغوی په دنیا او دوی په ښکلا پسی گرزی ، ددې دواړو غلا گانو فرق ډېر واضح

دی او سړی پوهېږی چه دغلا کلمه پدې ځای کښې له دنیا سره یوه معنی او له ګلو سره بیخی بله معنی پیدا کوی چه حتی حقیقت ئی بدلېږی لکه چه سړی ووائی فلانکی دعلم ګدائی یادر ویزه کوی اوفلانکی ددنیا ، نو هر څوك پوهېږی چه د دې د واړ ودر ویرو تر مینځ څومره فرق دی نو هلته که همدغه فقیه معترض چه وائی غلا خو یوه غلا ده څه ددنیا اوڅه د ګلو وپوښتوو به وائی چه ددنیا ګدائی تر څو سړی ګوډ او شل ړوند یاڅه وڅه ... نه وی ناروا ده مګر د علم دافرض ده چه باید سړی صین ته هم پسی ولاړ شی .

هر کله چه ښاغلی لیونی وائی چه په ښه ژبه می دی پوه کړی نو زه ئې دغه دی پوهوم چه ځینی کسان په دنیا پسی ګرزی چه دپښتو په محاوره کښې ور ته سړی ددنیا غل ویلی شی (که څه هم هغه له چانه څه شی لکه دتوری شپی غل نه پټوی او محض دنیا ته ئی څه چل جوړ کړی وی چه څوك ئی شرعاً او اصولاً ملا متولی هم نشی)مګر ځینی دعشق لیونیان وی چه ددنیا څه پروا نلری مګر یو داسی زړه لری چه له ګلو او ښکلو ئی نشی صبر ولی او دجمال په نندار و پسی لېوال وی دی کوښښ کوی چه په غلاغلا دښکلو ننداری وکړی ځکه چه عشق په رسوائی اورسمیت سره نه کېږی او داکار ډېر زور ور شاهان هم په پټ کوی ، نو دغه غلا او هغه غلا د ځمکی او آسمان فرق لری او په هېڅ تله نه برابر ېږی هغه غل لکه دمرداری کارغه داسی دی او داغل دبورا او بلبل مثال لری ، دلته که ته لږ څه مطلب ته ځیرشې نودماد یاتو اومعنویاتو ، دګېډې اودذوق دحرص او دعشق ، مقابله غرض دی ، زه هم وایم چه دعشق مقام ډېر لوړ دی او دغه شعر هم د عشق لوړتیا بیانوی او همدغه ئې لوړ والی دی چه عشق یوه انسانی تقاضا ده مګردخوراك حرص چه د دنیا غل ئی لری ټول حیوانات ئی هم لری ، دغسی خبروته باید سړی لږ څه ځیرشی او دژرندی اوجمات فرق وکړی په ځینو کتابو کښې داسی هم راغلی چه (کل من یطوف باللیل فهو سارق) یعنی هرڅوك چه دشپی ګرزی هغه غل دی نو که مونږ کوم مسلمان ولید چه د شپی د کعبی شریفی شاو خوا ګرزی اوطواف کوی نوله لاسه به ئی نیسو چه ته غل ئې ، نه ور وره هېڅکله به دغسی نه کوو او هر سور ږیری ته به ملاشاګل نه وایو ، زه دپیر زوینی له مخی وایم چه دقت ښه دی او ښو ته هېڅکله بدمه وایه .

هغه بل اعتراض دې چه پدې بیت کړی .

که وصال می دی نصیب نشو ژوندون کښې
ګوندی ګل شم چه لایق ستا د مزار شم.

د دغه بیت خاوند هم یوه ورځ وویل چه زما دا بیت په اصل کښې داسی و :

که وصال می دی نصیب نشو ژوندون کښې
ګوندی ګل شم چه لایق ستاد دیدار شم.

مګر نه پوهېږم چه چا اړولی اوله دیدار نه ئې مزار جوړ کړیدی ، په هر حال ستا اعتراض ځای پیدا کړی اوتاته سړی حق در کولی شی مګر د ډېر تعجب وړهم نه دی ، ځینی عاشقان داسی خیال هم کوی چه دغه حیات فانی دی اوهر څوك مری نوچه زه خاوری شم او زماله خاور وګلان پیداشی ګوندی هغه ستا په مزارځای پیدا کړی اوستا دخاورو په بوی سمسور شی نودغه راز تخیل له یوه مسلمان څخه چه پس له مرګه وصال ته هم امید واردی او داسی فکر کوی چه ارواح به می ستاله ارواح او خاوری به می ستا له خاورو سره یو ځای شی څه غرابت او تعجب نلری داخبرې می ځکه وکړی چه ستا انتقاد همد غومره دی چه عاشق څنګه د معشوقی مرګ غواړی او وځانته دګل نسبت ور کوی ، هسی نه چه زه اصلاً ددغه بیت طرفدار یم ځکه چه نور شعر اونور بیتونه له دې بیت سره سرنخوری اودغزلی له سیاق وسباق څخه دغه بیت مخالف دی څه شی چه دشعر خاوندوائی چه د (مزار) په ځای (دیدار) وبالکل حقیقت ایسی مګر نه پوهېږم چه دا تغیر به چا کړی وی؟ او که به له کوم کاتب څخه په پاك نویسی کښې دغه تعریف شوی وی ، هر حال داخبره د شعر خاوند ښاغلی سید بهاؤالدین ته نه ده راجع بلکه د صحافت څانګه ئې مسوله ده .

دملګرو خبری:

پدې ګڼه کښې دټوکو ټکالوله کلیشی لاندی بل راز ټوکی دی او معلومه شوه چه د صحافت څانګی دغه برخه بل راز اړولی ده اوغواړی چه په ټوکو خلقو ته پښتو وښئی . زما دا چل خوښ شو که نور څه نه وی د پښتو ځینی مخصوصی محاوری او اصطلاحات خوبه قید شی .

علمی څېړنی

ریډیم

ریډیم یو قسم فلز دی هر کله چه دا فلز له ځانه یو خاص قسم بریښنالری نو نوم ئې ریډیم چه د بریښېدونکی په معنی دی کېښودل شو دا اسم له مسمی سره مطابق دی . ریډیم د سپینو زرو غوندی بریښېدونکی سپین رنګ لری .

مادام کیوری د دې فلز مالګې له معدنی یورینیم آکسائیډ پایچ بلند څخه په سنه ۱۸۹۸ ع کال کښې له ټولو نه مخکښې حاصلی کړې وی بیا په سنه ۱۹۱۱ ع کال کښې له دې مالګی څخه ریډیم وایستلی شوه په عام طور سره ریډیم سلفیټ ، ریډیم کلورائیډ او ریډیم برومائیډ چه د ریډیم مالګی دی او د ریډیم په ډول بریښی د ریډیم پر ځای په جراحی کښې استعمالیږی .

اولنی قسم مالګه په اوبو کښې نه ویلیږی . آخرنی قسم ئې په اوبو کښې ویلیږی او دا په دوه قسمه ده اول هغه دی چه اوبو ور سره ګډیږی او هائیدریټډ ورته وائی بل قسم ئې هغه دی چه اوبه ور سره نه ګډیږی او این هائیډرس ورته ویل کیږی . پدې مالګو کښې د ریډیم مقدار په لاندینی ډول موجود دی :

۱ ـ ریډیم سلفیټ	۲ر۷۰	په سلو کښې
۲ ـ این هائیډرس ریډیم کلورائیډ	۱ر۶۷	« «
۳ ـ هائیډریټډ ریډیم کلورائیډ	۹ر۶۷	« «
٤ ـ این هائیډرس ریډیم برومائیډ	۶ر۵۸	« «
۵ ـ هائیډریټډ ریډیم برومائیډ	۶ر۵۳	« «

د دې مالګو د استعمال طریقه دا ده چه په پلاټینم فلز کښې په سلو کښې لس ریډیم خلط شی بیا نلونه ورته جوړ شی او د نلونو منځونه به تش وی او د دیوالونو پنډوالی ئې باید چه د ملی میټر د نیمائی یا د یوانچ د پنځو سمې حصې قدرته وی . د دوی منځونه د ریډیم له مالګی خصوصاً له ریډیم سلفیټ څخه چه په اوبو کښې نه ویلیږی ډکیږی او ښه کلک بندیږی او په یو سر کښې ئې باید چه یو سوری هم پریږدی او هر چیری چه د ریډیم اثر ته ضرورت پېښ شی نو مطلوبه مقدار ستن دی پکښې چیخ کړی او په مخصوصه طریقه دی ورننباسی .

او که را ایستل ئې مقصد وی نو هغه تارونه دی را کش کړی چه د دې نلونو په څوکو کښې دی . د دې ستنی د لګولو په مختلفو مقاماتو کښې مختلفی طریقی دی چه بیان ئې دلته ګنجایش نلری د ریډیم اثر په اصل کښې د ریډیم پر شعاعواړه لری او دری قسمه شغلی له دې څخه اوزی اول قسم ته ئې ایلفاریز وائی او د دې ایلفاریز رفتار په ثانیه کښې له (۱۸۶۰۰) میله څخه تر (۵۵۸۰۰) میله پوری کیږی او د نفوذ طاقت ئې ډېر لږ دی . یعنی دونه کمزوری دی چه د یو معمولی کاغذ له عمقه څخه هم په آسانی سره نشی وتلی نو له دې څخه څرګندیږی چه د پورتنی ستنی د یوالونه د ریډیم شغلې له باندی وتلو څخه را ګرزوی او پر جسم باندې ئې اثر کولو ته ئې نه پریږدی .

د وهم قسم ته ئې بیټاریز وائی . د دې رفتار په ثانیه کښې (۱۸۶۰۰۰) میله کیږی او د نفوذ طاقت ئې د ایلفاریز په نسبت یو په سل زیات دی . مطلب دا چه د فلز له نازکې سطحی څخه په ډېره آسانی سره نفوذ کولای شی او پر جسم باندی ئې اثر ډېر مهلک دی یعنی د جسم هره حصه چه له دې څخه متأثر شی بالکل حس پکښې نه پاته کیږی . نو ځکه د دې شغلو د ساتنی له پاره باید د ستنو او نلونو پنډوالی د غونه وی چه دا شغلې بهرونه اوزی او ضرر ئې جسم ته ونه رسی .

د ریم قسم ته ئې ګاماریز وائی دا شغلی له ایکسریز او الټر وایولیټ سره مشابهت لری ، دلمر له وړانګی سره مساوی رفتار لری او د شغلی او ږدوالی ئې د لیکس ریز د شغلې له اوږدوالی څخه ډېر لږ دی نو د دې تناسب له رویه د نفوذ طاقت ئې د ایکس ریز په

نسبت ډېر زیات دی ځکه چه د شغلي اوزد والی هر څومره لږ وی هغومره ئې دنفوذ طاقت ډېر وی . ددې شغلي اهم خصوصیت د ادی چه د جسم مهلك زخمو نه مثلا سرطان یا کینسر وغیره ډېر ژر وچوی او د جسم پرجوړه حصه څه اثر نه اچوی. د ځینو محققانو خیال دی چه هر څومره ددې شغلي اوزد والی کم وی هغومره ئې اثر او دنفوذ طاقت زیات وی چنانچه دستنی د دیوال پنډوالی که د ملی میتر له نیمائی څخه ډېر وی نو او زدی شغلي دنفوذ د طاقت د کموالی په سبب ددې ستنې له دیواله څخه نفوذ نشی کولای او ددې په خلاف لنډې شغلي دنفوذ د طاقت د زیاتوالی په سبب د ستنې له دیواله په آسانۍ سره نفوذ کولای شی سرطان او نور زخمونه هم ژر وچوی.

دیورتنی ریډیم د مر کباتو پرځای یو قسم شعاعی گیس چه ریډن ورته وائی هم استعمالیدای شی دا گیس یا هوا هلته پیدا کېږی چه د ریډیم ویلیدونکې مالگې (ریډیم کلورائیډ یا ریډیم برومائیډ) له هغو اوبو سره چه څه تیزاب هم ورسره گډوی یعنی له ایسی دو لیټه واټر سره یو ځای شی . دا دواړه سره یو ځای کوی اوله نری اونازك شی څخه ئې چاڼ کوی او دیلاتینم ستنې اونلونه ورڅخه ډکوی او په معمول ډول استعمالیږی داهم لکه ریډیم داسی شغلي کوی او ددې په جوړیدو کښې کافی مقدار ریډیم صرفیږی ریډیم مالگه ددې گیس له ایستلو نه وروسته نا کاره کېږی. سر بیره پر دې ددې گیس طاقت په ډېر لږ وخت کښې کمیږی . د ریډیم په وزن کښې هم ضرور تغیر راځی مگر بیخی ورو ورو او پس له (۱۶۹۰) کاله له خپل اصلی مقدار څخه نیمائی پاته کېږی پخلاف ددې چه ریډن گیس پس له دې چه له ریډیم څخه را اوزی له څلورو ورځو وروسته خپل نیمائی طاقت زائل کوی نو ځکه ریډن گیس تر ډېرې عرصې له خپل اصلی قوت سره نه استعمالیږی اودغه ئې وجه ده چه ډېر هم نه په کار ږی.

د ریډیم د وجود نه مخکښې د سرطان یا کینسر وغیره معالجه به د جراحی په عمل سره کېده له - کوم زخمونه چه پرې کېږی ضروری ده چه د جسم جوړه حصه هم ورسره پرېکړه شی او که نه هغه زخم بیا تازه کېږی . له دې قسم عمله ډېر خلك مری لکن ځینی که جوړ شی نو عموماً د امرض بیاعود کوی .

له هغه وخته چه ریډیم پیدا شوی او د خلکو لاس ته راغلی دی تر یوه حده پورې د اوفتونه رفع شوی دی مثلاً په اپریشن کښې له زخمه سره د جسم جوړه حصه هم پرېکېده له او س هغه نشته بلکه په هر ځای کښې چه زخم وی فقط په هغه ځای کښې ستن چوخول غواړی همدغه ئې وجه ده چه یدې قسم معالجه کښې خلك ډېر لږ مری . پاته شوه دا خبره چه د جراحی عمل مفید دی که د ریډیم نوې معالجه مفیده ده ؟

ددې فیصله او تصفیه اوس نه کېږی ځکه چه له ریډیم څخه تر اوسه دومره تجربې ندې شوی لکه چه له آپریشن څخه شوی دی هر کله چه د ریډیم په استعمال هم کافی زمانه تیره شی نود دواړو علاجو مقابله به په صحیح طور سره وشی چه له دې دواړو څخه کوم علاج ډېر کامیاب او مؤثر دی ؟!

(له خارجی مجلو څخه د ښاغلی سید احمد خان مفتون ترجمه)

(۲۱۷)

ملا عبدالرحمن دزمینداور

ښاغلی حبیبی:

ملا عبدالرحمن دقندهار دزمین داور اوپه قوم علی زی و، چه پسله (۱۳۰۰ھ) په قندهار کښې اوسېدی، دی دهغی خوا له پښتنو مشهورو ملی شاعرانو څخه دی او په ملی سپرو بدلو کښې ئې ښه طبع درلوده!

ملا عبدالرحمن مین سړی و، په بدلو کښې ئې دمینی شورښکاره دی، او دملی شاعرانو په دوهمه درجه کښې ګڼل کېږی، ده عشقی او نعتی اشعار ډېر ویلی دی، وینا ئې خوږه اوبرجسته ده.

د عبدالرحمن دعشق په انګار کښې زړه سوی و، لحکه ئې پریوه ځای ټېک نه درلود، د قندهار په لټو کښې به ګرځېدی، اوخپل سوی زړه به ئې سراوه، یو ګرزند سړی و، لاندی دده د اشعارو یو څو نمونې وګوری:

سپره بدله

کسر

پروت دی لونګین پر ځیګر
بوی ئې لحی دمښکو عنبر

تل درته کومه زاری - راغله پرما داسی خواوی - پورته که چشمان خماری - و که پرما باندی نظر زلفی دی پر مخ کړې شانه - زړه دې کی زما کشاله - زه ستا په وصال خو شحا له - را که سره لبان دې شکر زما اوستا تر مینځ دی بیلتون - ماله باید ندی ژوندون - حال خوسوزما د مجنون - خاوری نن زماسوې پرسر تاوېل خوله به در کم سهار - زه دی کړم له خوبه بیدار - زه درولاړسوم په تلوار - تا را څخه و کی، سفر سرمی تر جانان دی قربان - اوښکی می رالحی به کرېوان - زه یمه سوالی عبدالرحمن - غواړمه له خدا په دلبر

❀ ❀ ❀

سپره بدله

(کسر)

په اور کباب داسی کویایمه - زه خو عاشق مینه ستایمه - دامی احوال دی خوژوندی پردې دنیایمه
دتناره په اور کباب یمه

❀ ❀ ❀

په اور کباب دغه می راز دی - دزړه په راز کښې می آغاز دی - چه ئې له غیبه راښئی خوک می استاذ دې
رباب می ګډدی په خبرو یاره
رباب می ګډ یخیل شهباز دې - داستا په فکر سره سازدی - چه بې قلمه نوشته نقش کتاب یمه
دتناره په اور کباب یمه

یه‌اور کباب لحای‌می پیدا کښې . خه‌نوی‌دوګ‌دی پرزړه راکی . چه‌دګلو پرهار می بیاز هوب پیدا کی
آخر به لحمه‌دنا سوته‌خخه
دانام ونګ می تول ترشاکی . لحان‌می پداسی حال رضاکی . اوس دبیابان په لبو نو کښې زه حساب یمه
دتناره یه‌اور کباب یمه

❀ ❀ ❀

یه‌اور کباب سینه سوزان یمه . دزړه په خو که الویزان یمه . مدام‌دغم‌پر خلی‌پروت‌زه «عبدالرحمن» یمه
همیش‌دغه رنګه‌ویل کومه
مدام دغه‌رنګ کویان یمه . زه‌یه‌صفت دخپل جانان یمه . یاره‌وتاته احتیاجمن زه‌لا جواب یمه
دتناره یه‌اور کباب یمه

❀ ❀ ❀

(۲۱۸)

طالب

یه‌قندهار د(۱۳۰۰ه)یه‌شاؤخوا کښې‌اوسیدی ، د علم‌له طالبانو خخه‌ؤ، مګر دمین تابه‌یه درد خوزمن ، اوزړه ئې بایللی‌ؤ .

دطالب اشعار یه‌ملی لهجه‌دی اودیر شهرت هم لری ، هرخه چه‌ئې‌ویلی دی ، له‌زړه خخه‌ئې راایستلی او درشتیانی مینی‌ترجمانی‌ئې کړې ده ، د«طالب» ژوندون دیر سرګردانه اومجردانه ؤ، کلی‌یه کلی به‌ګرزیدی، یوځای به‌مخکی تپك نه‌ورکاوه ،او دعشق په کیفیت کښې‌به‌ئې خوږې بدلی ویلی، لاندی دده داشعارو نمونې وګوری !

کسر

یورته که‌له خوابه چشمان ژاړی عاشقان په ارمان

❀ ❀ ❀ ❀

ستر ګی‌دی‌په‌ناز کړې توری لمبې‌دی‌په‌ماخوار کړې پوری
راسه دعاشق پر لوری بوی دی لحی دمشکو ریحان

❀ ❀ ❀

ستا دعشق پر مادی تاخون ماله باید نه دی ژوندون
حال دی کی‌زما دمجنون نه راځی پر لوری جانان

❀ ❀ ❀

وایم دا غزل عجیبه راسه زما دزړه مطلبه
غم‌دور که دخوار «طالبه» ته که پر له پوری لبان

❀ ❀ ❀

بدله

نن‌دی‌ولی‌سترګی‌سرې دی‌ته وادیردی دی ژړلی
یاره کوز بانو دی غشی ، عاشقان دی په پیلې
زیار تو لره به لحمه ، خپل اشنابه یادو مه
د ژوندو می لاس پرسر شو ، ننګوم دلحد مړی
زه «طالب» غریب‌فریاد کم،چه‌داخپل جانان‌په‌یاد کم
د غما زدی کور خراب شی،نن ئې‌بیا دی‌خه ویلی

دافغانستان پخوانی تاریخ

(۲۵)

شاغلی کهزاد:

پنکه جانا: دا نوم له دوو کلمو مرکب دی (پنکه) د پنځو په معنی او (جانا) د قبیلې معنی لری، دا یو اصطلاحی نوم دی چه در یگوید په سرود کښې ئې په پنځو اریا ئې قبیلو اطلاق شوی د دې پنځو قبیلو نومونه په کامل او مشخص یقینی دول یو ځای در یگو ید په سر ودو کښې خنگ په خنگ نه دی راغلی دهمدی لامله ئې په تعین کښې مدقیقینو هر یوه بیله نظریه ښکاره کړی (دز یمر) په عقیده دا قبیلی عبارت دی له «انو» «دریوهو» «یادو» «تور واشا» «یورو» څخه «مستر مکدونل» هم په همدغه عقیده دی مگر هندی فاضل «ابنیاس شاندراداس» چه د کلکتی په یونیو رستی کښې دهند د قدیم تاریخ معلم دی اظهار کوی چه که د بها راته معروفه قبیله هم په دې جمله کښې ونیول شی ښه به وی. علاوه یدی دغه فاضل «یادو» او «تورواشا» یوه قبیله او «یورو» او «ترتسو» بله قبیله گڼي.

د دغو پنځو قبیلو چه پخپل مینځ کښې یا له ځینو نورو قبیلو سره هر ارتباط وی مونږ ور سره څه کار نلرو خه شی چه زمونږ دهوادد تاریخ دویدی عصر په فصل پوری ربط لری او مهم دی هغه دادی چه د (پنکه جانا) دپنځو قبایلو اجزا تول د لسو ملکانو (یکتیانو) (یکتویس پارت) پښتنو او (الینایانو) نورستانیانو او زمونږ دهواد د نورو قبایلو په جنگ کښې شامل و او د (بهاراته) جبهه چه د مخه ورته اشاره شویده د دوی په طرفداری باندی هغوی نورهم قوی شوه. مدقیقین دو ید دسر و دونو د تعبیر له مخی اظهار کوی چه پنځه گون قبایل عموماً یو له بل سره متحدو او په ژوندانه کښې ئې یو له بل سره تماس درلود، په عرف وعادت او ځینو سجا یاؤ کښې ئې خپل ممیز ات لرل. یدې پنځو قبیلو کښې وروسته له (بهاراته) څخه (دیورو) قبیله زیاته معروفه وه، ځینې یدی نظریه دی چه دغه دوه عشیری یوه قبیله وه، دریگویدیه سرود کښې بهار اتیان او (یوراوا) یعنی د یورو اولاد زیات شهرت لری هر کله چه یورو او بها راته دیوی قبیلی څا نگی وی هیڅ شبهه نه پاته کیږي چه دوی هم لکه بهاراته له باختر نه د هندوکش جنوب ته اوله هغه ځایه د (سندهو) په ماورا کښې خواره شو یدی (شاندراداس) د دوی مسکن اوتاتوبی داندوس په لوړه دره اودگندهارا یه حواشیو کښې ښئي.

کیسې او نکلونه

د تاریخي کیسو څخه :

فداکاري

د ښاغلي «نظامي» ترجمه

که څه هم (ژن - ته) غرونه د آسیا په قطعه کښې دونه جګ او لوړ نه دي ، مګر په عین حال کښې د صعب العبورو او سختو ځمکو لرونکي دي ، دا غرونه د (تنکین) د خلیج او د (سور) درود خانې په مینځ او د چین په سرحداتو کښې واقع دي ، او (۱۷) زره کیلومتره مربع ځمکه ئې اشغال کړیده ، ددې ځمکې فاتحین تاتاریان وه چه تر (۸۵) کالو دمخه ئې هلته ډېرې ټینګې او مستحکمې قلاګانې فتح کړې او په کښې میشت شوي وه ، او بیله دې چه ډېر ډېر خلکو متابعت وکړي ، مستقله او آزاده حکمرانۍ کوله چه نه د (تنکین) د عمومي والي اونه د چین د امپراطور اونه د انام د پاچا تر اثر لاندې و ، اونه ئې د هغوی تبعیت قبلاوه ، بر سېره پردې ئې خپله حکمرانۍ پر نورو او ګاونډیانو چه ددوی په شاوخوا کښې و ، هم چلوله او هغوی هم ددوی حکومت منلی و .

د میلادي په (۱۸۶۰) د (ژن - ته) د آوارو او دغرونو

(پاته د ٤١ مخ)

دیاختردارۍ ئې کتلی دبهاراته او یو رو جګړې مساور اوغښتلو قبیلو وروسته تر رسیدلو پنجاب او د ګنګا وادي ته دار پاپانو لمړي سلطنت په دغه ځای کښې قایم کړ . (مهاباراته) او (پوراناً) ئې د زمې او عشقي داستانونو په نقل رنګین دي د پنګه جانا نور قبایل دومره زیات شهرت نلري او دلسو ملکانو په جنګ کښې به یا زمونږ له نظره تیر شي .

دلسو ملکانو جنګ او دبهاراته جبهه هغه قبایل چه پدې جنګ کښې شامل و :

یوله هغو تاریخي وقایعو څخه چه له ویدې سر ودو څخه استخراج شوي هغه معروف جنګ دی چه په اریائي قبایلو کښې وروسته تر دې چه داریانا له شرقي حصو څخه ئې حرکت او مهاجرت وکړ دیارو شنې درودخانې په غاړه (ایراواتي - راوي) کښې واقع شو او دلسو ملکانو یا لسو پادشاهانو یا لسو قبیلو په جنګ یا دیږې مدققینو دا واقعه له مختلفو خواو تجزیه او مطالعه کړې او نظر هغه اهمیت ته چه اریائي مستقل اثار ئې پرې لیکلي دي . دا جنګ زمونږ د هوادد ویدې عصر په تاریخ کښې او مخصوصاً پدې لحاظ چه داویو قبایلو نومونه روښانه کوي او تماس وروابط ئې یو له بله سره د مساعیو د اشتراک (اونو رومسایلو) ښئې ډېر اهمیت لري دغسې یو جنګ بل هم شته چه داریائي قبایلو تر مینځ د سر اسواتي په حوزه (هراویتي - ارغنداب) کښې واقع شوي او هلته هم څه قبایلو برخه اخستې چه دهغو قبیلو اولاده اوس هم د افغانستان په غربي حصو کښې اوسیږي هر کله چه د دې واقعاتو له تحلیله زمونږ د باستاني قبایلو او موقعیتو نومونو نه په ویدې عصر کښې زیات روښانه کیږي نو د قبایلو په سلسله کښې مو دغه جنګونه راوړه چه د قبیلو نومونه یو ځل مینځ ته راشي او وروسته بیا تر هغه حده چه مونږ معلومات لرو دځینو هویت څرګند کړو .

(نوربیا)

قبیلی د یو عادل او ننګیالی سړی (تکین تونکا) ترقیادت لاندې ژوند کاوه ، او په هر موقع به چه د نورو خلکو دارتش ډلی ، بېله اجازې ، په (تنکین) کښې واردې شوی او په دې لیارو به پیکن خواته تلل ، د تکین تونکا نیرو پرهغوی باندې یرغل کاوه او مالونه ئې چور او چپاوول ، یوه ورځ چه ډېر سخت جنګ نښتی و او غلیمان د تکین تونکا ترشا شوی او شکست ئې خوړلی وپخپله تنکین تونکا په دې جګړه کښې سخت زخمی شو ، اود (ژن-ته) د یو غره په لمن کښې یوازې بې سده لویدلی او له خپله ځانه خبر نه و ، او که په دې ساعت یو شپون زلمی چه نوم ئې (کدامان) و ، خپلی غواګانی هغې خواته داو بو دپاره نه وای را وستلی او پر تکین تونکا نه وای پېښ شوی ، دا ننګیالی او زړه ور قائد مړ کېده ، او دلاسه به وتلی وای .

کدامان یو بې علمه زلمی و ، مګر په عین زمان کښې د تودې وینی خاوند و ، په دې حال چه د ده سترګی په زخمی شوی سړی ولویدې او پرهارونه ئې ولیدل ، بېله دې چه هغه وپېژنی ، دی ئې په خپله غېږ کښې ونیو او پر یوه غویی ئې سپور کړ خپل کورته ئې راووړ ، او پرهارونه ئې ورومینځله او کلك ئې و تړل ، او په خپل لاندیستون کښې چه دوښو ئې ډك کړی وځملاوه .

یو کړی وروسته چه د (ژن-ته) قهرمان په سد شو او په خپل ځان وپوهید ، سترګې ئې وازی کړی دا آرامه جونګړه ئې ولیده چه هیڅ څوك پکښې نشته هك پك او مبهوت پاته شو ، په دې حال کښې زلمی شپون راغی ، او تازه شېدی ئې چه د خپل عزیز مېلمه (تکین تونکا) دپاره تهیه کړی وې ورنژدې کړی او په ډېره مهربانۍ ئې ورته وویل :

« مه بېرېږه » !

تکین تونکا وروسته تردې چه شېدی وچښلی او لږ دقوت ئې وموند په دې فکر کښې ولوید ، چه خپل ماجرا او کیفیت معلوم کړی او د کور خاوند وپېژنی ، د کدامان څخه ئې پوښتنه وکړه :-

- ته څوك ئې ؟

- زه غریب شپون یم او زما نوم (کدامان) دی ، وایه ته څوك ئې او ولی داسی زخمی شوی یې ؟

- مګر ما نه پېژنی ؟

- په زه تا نه پېژنم .

- زه تکین تونکایم .

دی زلمی شپون چه د خپل مېلمه نوم وا ورید په ډېره چټکی د خپل ګران مېلمه پرمخ کښې پر زنګنو شو او لاسونه ئې ورمچ کړه ، ورته وېویل :

- ماد ډېری مودې راهیسی ستا د زیارت شوق در لود . او په دې خیال کښې وم چه ستا غوندی فداکار او نامتو سړی په رکاب کښې خپل پاته عمر تېر کړم . پاك خدای زما آرزو تر سره کړه مګر افسوس په کوم حال ؟ !

داو ، د غښلی او شجاع « کدامان » واقعه چه د ده د شهرت باعث شوه ، او (ژن - ته) په غرونو او د پردیو خلکو په زړونو کښې ئې بېره او لوی دهشت واچاوه .

د تکین تونکا په زړه کښې یوه مخصوصه علاقه د خپل نجات بخښونکی په نسبت پیدا شوه ، او دی ئې خپل معاون مقرر کړ ، وروسته تردې چه خپل کورته را ورسید ، خپله یوه لور ئې (کدامان) ته ورکړه او نکاح ئې ورسره وتړله او په دې واسطه چه زوی ئې هم نه در لود ، دی ئې خپل ولیعهد مقرر کړ .

څو موده چه د دې واقعی څخه تېره شوه ، او د (ژن - ته) په جزیره کښې جګړه او وینی تویول نه قطع کیدل تر هغه وخته پوری چه په ۱۸۸۷ میلادی کال ، فرانسویانو دا جزیره بالکل اشغال او ضبط کړه او د (ژن - ته) اهالی مخصوص زړه ور (کدامان) او د ده خسر تکین تونکا په یو ډېر سخت ځای کښې حصار او کلابند شول .

او س نو لازمه ده چه دلته (د کدامان) نوم یاد کړو ، ځکه چه تکین تونکا څو موده د مخه د کار څخه ځان کناره کړی او ټول کارونه ئې خپل زوم ته پرېښی وه ، کدامان او د تکین تونکا قبیله او عسکر دهرې خوا څخه کلابند شوه ، د فرار لیار دوی ته پاته نه شوه .

تکین تونکا بېله دې چه چا سره مرکه او مشوره

وکړی ، یوازې اودنوروانو یوالانو څخه یې دفرانسه دعسکری قوماندان سره دخپل ځان او د خپلی قبیلی د تسلیمیدو په باب کښې خبری اتری شروع کړی ځکه چه کدامان په هیچ صورت راضی نه و، چه پر دیو قواو ته تسلیم شی ، ده او د ده ټول طرفدارانو دخپل حفاظت اوموجودیت او دخپلی آزادی او خپلواکی دپاره هر راز او هرې نوع فداکاری ته تر آخره پوری ځانونه چمتو کړی وه .

یوه شپه چه ډېره تیاره وه ، تکین تونکا دتیارې نه استفاده وکړه ، سره ددې چه مسن او ضعیف هم و، د صعب العبور وغرونو له لیارو څخه ئې په ډېری چابکی خپل ځان د دښمن عسکرو ته ورساوه ، او د د ښمن دعسکر دلمړی سړی سره چه مخامخ شو، دشپې هغه نوم چه یخواد دښمن دقوماندان له خواده ته ښودل شوی و، هغه عسکر ته ووایه او عسکر تکین تونکا دخپل قوماندان حضور ته بوت. تکین تونکا ددښمن قومندان ته وویل: چه زه او نور ملګرې مې دې خبری ته آماده یو، چه خپل ځانونه تاسو ته تسلیم کړو، مګر کدامان په دې نظر یه ماسره مخالفت کوی، ددې مخالفت په اثر، هغه وخت چه زه ستا حضور ته راتلم، کدامان بیده و، او زه مجبور شوم چه یو بمب دده په خونه کښې ښخ کړم، دا بمب ممکن چه خپل پر موقع وچوی، او تاسو په لهدې ځایه د کدامان په عمارت هغه شعلی چه د بمب له انفجاره څخه تولیدېږی وویني.

قومندان دتکین تونکا لاسونه په ډېره مینه کښېنل او دهغه څخه ئې تشکر وکړ، تکین تونکا وروسته تر دې خبرو دقومندان څخه خواهش وکړ چه زه دپرستړی شوی یم، که ما ته اجازه را کړه شی، چه یوه کړی استراحت وکړم قومندان دده خواهش قبول کړ او اجازه ئې ورته وکړه چه بیده شی .

یوه کړی لانه وه تیره چه پر له پسی سخت آوازونه پورته اویو لوی حریق ښکاره شو، مګر دا انفجار او حریق د کدامان په عمارت کښې نه و، بلکه د د ښمن دار دو په قرارګاه کښې خرګند شو. دا کار تکین تونکا د خپلو افرادو او قبیلې او دکدامان دنجات دپاره کړی و، ځکه چه کدامان چه دتکین تونکا نجات بخښو نکی و، پر ده ډېر ګران و، او خپل ځان ئې دده او خپلی قبیلی دپاره فدا کړ. او هغه مدهشه بمب چه ئې راو ړی و د د ښمن دعسکر په قرارګاه کښې ئې ښخ اودو یجا ړو او دپاره ئې استعمال کړ.

ددی بمب دانفجار په اثر تکین تونکا او ددښمن قومندان اونور دار دوافسران ټول محو شوه ادیو شور ماشور دار دو ګاه په منځ کښې ونښته ، کدامان اودده طرفداران اودتکین تونکا قبیلې ددې معجزه آسا غلبلې اوهیاهو څخه استفاده وکړه، یه یوه حمله ئې ددښمن دمحاصرې خط ویجاړ کړ، او دچین په خاوره کښې داخل شول، وروسته دداخلیدو کدامان اود تکین تونکا قبیلی چه یو بل سره ولیدل تکین تونکا ددوی په منځ کښې نه و ، دوی یوه شوچه دا عجیب اقدام او خارق العاده کار دتکین تونکا له خواشویدی او خپل ځان ئې ددوی دپاره فدا کړ یدی.

له هري خوا

د کوموشیانو یوځای خوړل د خطر احتمال لري؟

په دې موضوع کښې اکثر طبیبان او د تجربو خاوندان دا نظریه لري :

که څوك مولۍ او مستي او پنیر یوځای وخوري نو په دې صورت کښې د قولنجو د درد خطر شته او د شودو سره د تروو شیانو په خوړلو کښې د معدې د درد او دوینې د احتراق خطره ده ، که د کب سره شودې یا کبینې (شهد) و خوړل شي یا د ګنو شربت و څکل شي د جذام او یا برص او قولنجو وېره ده.

د مرغانو د غوښو سره د مستو په خوړلو کښې د فالج احتمال شته ؛ ځینې دا راز خلك وي چه که هغوی د کوتري د غوښې سره پیاز او یا وږه وخوري نو هغوی ته د معدې درد پیدا کیږي او ځینې دا سي خلك هم شته چه که هغوی د وریجو سره سرکه او یا نوره تر شي وخوري نو هغوی ته د معدې درد پیدا کیږي .

که شودې او شراب دواړه په معده کښې یوځای شي نو په دې صورت کښې د نقرس بیره ده .

که خټکي او وږه او شات د ریواړه یوځای وخوړل شي نو په دې صورت کښې د معدې د درد او دوینې د احتراق خطره ده .

د خټکي سره مستي یوځای خوړل هم په معده کښې درد پیدا کوي .

د غټو وریجو سره د « شیر برنج » یوځای خوړل په معده کښې درد پیدا کوي . د چرګ د غوښې سره د مولۍ خوراك ښه کار نه دی او د هندوانې او خټکي د خوراك نه وروسته او به څکل اکثر هیضه او نور مرضونه پیدا کوي .

د پریکړې مڼې سپین رنګ ولي وهوا په تماس سور والي پیدا کوي ؟ هر کله چه د مڼې ترکیبي اجزاء د هوا د اکسیجن سره ګډ شي نو په دې صورت کښې د دغه ترکیب څخه یو نوی مرکب پیدا کیږي چه هغه مرکب سور بخن رنګ لري .

صفر څه ته وائي ؟

صفر د هغه مقام نوم دی چه په هغه مقام کښې تود والي او حرارت بالکل نه وي په سنتي ګرید کښې دا مقام د انجماد د نقطې نه ۲۷۳ درجې کښته وي .

د چینې لوښي چاود څه رنګه ور کیږي ؟

که د چینې په کوم لوښي کښې چاود « مویك » پیدا شي نو باید په دغه راز چاودونو کښې اول د شاتو موم ډك کړ شي او د شاتو د مومو دا چولو نه وروسته باید دغه چاود د وریښمو په یو زوړ د سمال ومښل شي .

وریښمینې جرابې څه رنګه ساتل کیږي ؟

که څوك غواړي چه د هغه جرابې او خصوصاً وریښمینې جرابې ډېره موده دوام وکړي نو باید هغه د جرابو په پوندو او تلو باندې موم پورې کړي په دې صورت کښې جرابې د پخوا په نسبت ډېر دوام کوي .

(د صحافت څانګه)

ټوکی ټکالی

د دوو ملګرو خبری :

دائې قباله په چائې منی؟

پردل: کوندل جانه! دا څه اصطلاح ده چه هر څوك په خبرو کښې وائی! «دائې قباله په چا ئې منی» کوندل! څه سا ده می ته ولیدې - په دی اصطلاح خو هر سړی خبر دی...

پردل: بی له ما - !

کوندل: هو، ماهم سړی وښود...

پردل: زه نو څه سړی نه یم؟

کوندل: خدای دی نکوی - خو دادی چه: هر سړی نه یې!

پردل: ښه، ته خو هر سړی ئې اوس نو را ته ووایه، دا څه اصطلاح ده؟

کوندل: که رشتیا درته ووایم، زه هم پوره په خبر نه یم!

پردل: خیر ته هم هر سړی نشوی؟

کوندل: یم، خو دانا په قول!

پردل: څنګه؟

کوندل: ددې اصطلاح شرح ماته خپلی انا کړې وه.

پردل: ښه دانا دخو لی سړیه! وایه نو؟

کوندل: غوږو نیسه - اناچه زه کوچنی وم راته ویلی ئې وه چه:

«یوه ګیدړه وه - دا ګیدړه ډېره بیرندو کې او هم ډېره وږې او حریصه وه - انګورو ته ئې هوا شوی وه دبیری دچاباغ ته نشو ای ورتلای نووی غوښته چه نوری ګیدړی وغو لوی او دځان ملګری ئې کړی چه دهغو په مرسته انګورو خوری - نو شل دوه ویشت ګیدړی ئې خبرې کړی ورته وی ویل: «راځی - ما باغ اخیستی دی او قباله ئې هم لرم نو تاسی ته نن میله در کوم -» نور و ګیدړو هم وویل: «تر دې به نور څه ښه وی؟» ټولی ددې په خبر ووغولیدلې ورسره رهی شوی، ګیدړی چه یو ښه د انګورو ډك باغ لیدلی و، دوی ئې ورته راوستلې - ګیدړو چه یو څه انګورو خوړل باغوان په خبر شو - باغوان دوی ته ځان ښکاره نکړ، ولاړ کلی ته ډېر خلك اوسپی ئې راوستل، شاوخوا پر باغ راوا وښتل - پر ګیدړو باندی ئې یو قیامت جوړ کړ هغې ګیدړی چه ځان خلاص کړی و، دباغ پر دیواله ولاړه وه تماشا ئې کوله نورو ګیدړو ور ږغ کړه:

«قباله ښکاره کړه!»

ګیدړی لکی وښوروله وې ویل!

«داز مالکی ئې قباله، مګر په دې وخت کښې ئې په چا منې؟»

پردل: - رشتیا هم داده چه په داسی وخت کښې څوك په قباله پسی نګرزی - مګر ګوره! دې ګیدړی نو ښه چل کړی و؟

کوندل: هو، نس ئې خپل موړ کی، په بلائې نوری ګیدړی ور کړې...!

پردل: یاره! پر انسانانو کښی هم داسی کسان پیدا کیږی؟

کوندل: هو، که نه وای - دا اصطلاح به له کمه شوی وای؟

پردل: توبه - توبه - خدای مودی تری وساتی! (البزی)

خوترنېمو شپو ورته ولاړو، نورڅه ئې ونه لیدله ـ نو خونی ته ورننوت، وظریف خان ته وویل چه ستالکه چه دغه ښځه خوښه شوله ـ اوزما ستا دپلار سره دزړه اشنایې درلوده، نو دغه ښځه به در پریږدم چه ستا خوښه ده تر تا قربان ده ـ دظریف خان داخیال شوچه خان به ماخطاوتی که څه؟ چه داخبره ئې وکړه نو یې پرخان ناره وکړه:

که گل کی گل کی ـ په هندوستان کښې پسرلی گل کی ـ داهم درب رضاده ـ چه ورورئې ناست وی

وریندارى بلکی ـ هاها! وریندارى بل کی.

یعنی دا عجبه ده چه ته ناست اوزه به ستاوحرم ته گورم، ته زما پلار باورورئې دامی وریندارە ده خان ویل چه تاولی ورته وکتل ده ویل ماددې مخ نه دی لیدلی، منگر دغه غمی ته می وکتل چه رڼائې زما پرسترگو برابره شوله دخان هم وزړه ته ولویدله چه پاك یې او بیشکه دپښتانه زوی یې؛ لنډه داچه سهارئې ظریف خان په ډېر عزت رخصت کی کورته راغی.

خدری فکر وکی چه دادومی هم ونه چسپیدی، اوس نو چرت وهی چه په څه چم داظریف خان مړ کم یا ئې له وطنه ورك کم پریوه ټکه ئې اخته کم، چه بیا ترمرگه پوری رانه شی چه دغه میراث اوخانی ئې ماته پاته شی چرت ئې وواهه وواهه آخرته په ظریف خان پسی شوچه پلار دی هم سوداگری کوله ته کورناست ئې؛ په درځه چه په سوداگری دی بوزم، اوس لازه ژوندی یم ـ پرمادی حق دی چه سوداگری درزده کم، بیا که مړشم هم ارمان نه لرم ـ سبا به دی دغه پلار گټلی بایللی وی بیا به څه کوی؛!

دظریف خان هم خوښه شوله ویل ښه دی کاکا «خیال ئې داشو چه مشر دی دی بده ئې نه ده درباندی پیرزو» لنډه داچه (دنکل کاردی) کاروان ماروان ئې جوړ کی، سوداوسوله ـ په دې سبانو وهندوستان ته باریږی مابی په دې کیفیت ناخبره ده دظریف خان یوتورنو کرو، راغی پرمابی ئې ناره وکړه:

ظریف مرغه سو ـ پرالوته سو ـ مابیه راسه دام ورته کښېږده ـ که بندوی واردی داغه سو

های های واردی داغه سو.

دا کیفیت ئې مابی ته ووایه، چه ظریف خان هندوستان ته ځی ـ مابی راغله که گوری کاروان ولاړ دی ظریف خان د آس تانگونه ټینگوی. آس ئې هم نوی نال کړیدی نومابی ناره پروکړه:

تادنیلی تانگونه ټینگ کړه ـ نال دمیخ دی دهندوستان پرخواوهلی. بیی اولال اوزه دی پرچاباندی سپارلی

ها ها چا باندی سپارلی؟

ظریف خان په جواب کښی ناره پرو کړه:

ما دنیلی تانگونه ټینگ کړه ـ او نال ومیخ مې دهندوستان پرخوا وهلی

بیی لال می اول پرخدای وای پسی پرتاباندی سپارلی ـ ها ها پرتاباندی.

بیا مابی ناره پروکړه:

که مځه مځه ظریفه مځه دهندولورته ـ رازق موخدای دی رزق به رارسی زمونږو کورته ـ های های زمونږو کورته.

ظریف خان غوږنه پرنیو کاروان بارسو که څه هم دظریف خان په زړه یوالله خبرومنگر د غیرته اودا کا اودتر بروله جهته هیڅ زغ نه کوی. اونه مابی ته گوری دمابی اوښکی راتوی شوی چه ظریف خان نه پاتیږی بیا چه ئې ظریف خان ته وکتل لږ څه خپه پخیال ورغی فکر ئې وکی چه ظریف خان خوهم درباندی مین دی یو بی ستا غم په زړه کښې وی بل دسفر نودغه زمادمخ په گرزیدوبه ئې لاغم یو په دوه سی نویې بیرته د ده دزړه د ډاډ دپاره ناره پروکړه:

یو تا چه پنډ کی پر مادی غم کی - ظریفه ته چه اوس خپه نه سی - او ښکی می راغلی درته می څنګ کی. - های های درته می څنګ کی.

یعنی ته خوامه بدوه چه مامخ درڅخه وګرزاوه چه زه نومروره سولم - یه مروره نه یم ستا دبیلتون اورمی پر زړه بل سو، اوښکی می را ایله سولی نومی مخ درڅخه وګرزاوه ماویل چه ظریف جان په سفر ځی زړه ئې نری دی نبایده چه دغه زما اوښکی ووینی غم به ئې یو په دوه شی.

لنډه داچه کاروان رهی شو مخ دهندوستان پرخوا مابی پربام وختله؛ پسی ګوری ژاړی هه هه خو دوی ترسترګو نیهام شوله نومابی ناره پسی وکړه:

اوښانو وخوری، داوږدې غاړې - دالوی ورتونه - پرون لا دامال ظریف دلی و - نن خوموتېر کی. ترولا تونه های های ترولا تونه. مابی دبامه څخه راکښته شوله، دغه شپه اوورځ تېره شوله په دا سبا غرمه چرت وهی چه خدایه ظریف خان دچول مزلونه وهی، حلق بی څنګه وچ کلك وی، پرمخ بی دسفر خاوری پرتې وی شونډان بی سپېره وی، اوبه به نه وی، نوئې په ژړا کښې ناره وکړه، که دوری دوری دهند پر لوری - خدایه نری اوریځ پیدا کی - چه شکر تری وای باران تراوری - های های باران تراوری. مابی نودالته پر یږده کاروان اوظریف خان دوی پسی راواخله - ظریف خان اوخدری او کاروان برابر راغله دهند وستان علاقې ته که ګوری په مخ کښې یورو ددی ډك بهیږی، پریوه خوا لار دتېریدونشته یو پل دی خلك پر تیر یږی کاروان چه پرپله راغی پلوان ومخی ته ورته را ولاړ شو - ویل ودریږی، دپله محصول را کی بیا تېر شی چه دپله محصول رانه کی، نه مو پریږدم چه تېر شی. - خدری ورته ټینګ شو، ویل عجبه دی وکړه دادونه عمر می غم نه در کاوه اوس غم غواړې، یوه پیسه نه در کوم - وظریف خان ته ئی مخ راواړاوه ورته وې ویل چه ظریف خانه ګوره! عمری به مونږ اوستا پلار تېرېدو ولا که هیچا غم راڅخه اخیستی دی، دا پلا چه ته راسره یې په نظر ئې هلك ورغلی غم درڅخه غواړی! - ظریف خان هم ورته ټینګ شو، وپلوان ته ئې ویل عجبه دی وکړه؛ زه خو هم هغه پلار زوی یم - ته نه ئې خبر چه داد ظریف خان کاروان دی؛ یوه کسیره ولا که در کم، که جنګ کوی هم دغه میدان دی، که باچا ته دی ځی، هم درځه زه پخپله درسره ځم - پلوان ویل درځه باچا ته راسره.

لنډه داچه ظریف خان او دپله خاوند دواړه باچا ته سره ولاړه، کاروان تیر شو - خدری فکر وکی، چه داغه دی و اردی که دی په بلا کښېوست؛ کوښښ کوه که دی په باچا مړ کی. یادی عمری په بندی کې - خو دستی ئې متان ټینګ کړه پسی ورغی «ظریف خان خو هر ګوره ښایسته و، لکه شاهزاده ښه اخلاق ئې درلوده - او په دغه کچنیوالی چه اوس نو ځوانی ته نژدی وو ډېر غیرتمن اوخورا غلیچ اوزورور اوپهلوان غوندی و» خو چه خدری ورغی کې کتل چه ظریف خان بیا باچا پر چوکی کښینو لی دی؛ خدری په یوه ترڅ کښې ځان ورتېر کی. باچا ته ئی ویل چه عرض لرم هغه ویل ووایه څه عرض لری؟ خدری ورته ویل چه پټ چه بل څوك نه وی درته وایم باچا ویل ښه دی، خدری ئې ځان ته نژدې راووست، ورته ویل ئې ښه په غوږ کښې راته ووایه! خدری پټ په غوږ کښې ورته وویل چه دغه ظریف خان نومیږی؛ ډیر شریر او جنګره اوسر شوخه سړی دی، دهیچا حکم نه منی داینځوس کاله مونږ پر دغه پله اولار تیریږو، دغه محصول ورکوو - اوس دی شېر کی شېر کی کیږی؛ وایی چه زه دباچا غم نه ورکوم - اودالا څه ستاد باچهی هوائی کړې ده، دوه سوه ښکنځل او پوچ وردئی درته وویل باچا چندانی غوږ پرونه نیو منګر په زړه کښې خو شحاله شو، چه ښه دی دا ښایسته توریالی غښتلی ځوان دی اوس یې په دغه بانه را وګرزوم - لنډه داچه باچا خدری ته آفرین ورکی رخصت ئې کی ظریف خان ئې نظر بنده کی خو ظریف ښه ځوان و، نو په دغه سبب ئی خورا ښه ساتی نو کران ئی ورسره کړه، چه ته خپل عیش کوه زما په

باچهی کښې چه دی هر څه زړه غواړی در ته اجازه ده - ته لکه زما زوی - منګر هو پر بله خوادی نه پریږدم چه ته ژوندی ئې دغه دی ځای دی ځی به نه (۱)

ظریف خان باچا ته وویل چه ستا حکم می پر غبر ګو لیمو منلی دی ، منګر دغه سړی چه ستا پر غوږ و در پر یووت اکامی و ، دونه می ایله که چه یو وصیت او دخپل عیال سپارښت پرو کم - باچا ورته ویل چه ښه دی ورسه ! باره ئې دوه کسه سپاهیان ورسره کړه ظریف خان چه راغی که ئې کتل خدری بیا ټول کارونه کړی دی کوچ وبار دی مخ د کور پر خوارا رهی کیږی ، ډېر خوشحاله دی ؛ ظریف خان ناره پرو کړه :

که دوری دوری د کور پر لوری . ته چه کور ته ور شی بیی به مچ کې
لال ورور به ګوری - های های لال ورور به ګوری

چه یعنی زه خو بندی شوم زما د عیال سره به ښه کوی ! خدری په جواب کښې ناره پرو کړه :

که دوری دوری ، د کور پر لوری - چه کور ته ورسم بیی به مچ کم -
لال به کړم وای د ستر ګو توری - های های د ستر ګو توری

چه یعنی بیغمه اوسه ، ښه به ئې ناز وم - ظریف خان بیا د ټینګار د پاره بله ناره پرو کړه :

که پند که پند که خدریه پند که - دا زما خبری پر زړه قلم که - که کور ته ولاړې بی بی لعل بیك وای - دخپل عیال وای سره سم که - های های سره سم که . چه یعنی بی بی او لعل بیك کچنیان دی لکه خپل اولاد داسی بې ساتې ! - خدری فکر وکی ، چه ظریف خان دی مرګ له راوستلی وو - او اوس دی د زړه داډ ور کی دا خو ښه نه شوه - په راشه پر زړه ئې مالګه ورتوی که چه ښه تر اخپه او دق سی اوسل ور ولویږی نو ئې ناره پرو کړه :

نه به ئې پند کم - نه بی د زړه پر سر قلم کم - که د دې واری کا کا ولاړی - دا ستا عیال به زه در بدر کم های های ښه در بدر کم .

خدری ځنی رهی شو - د ظریف خان خو را زړه در دو کی ، چه دا لکه چه ګرده خدری دی چه دا پسات ئې درو کی - نو وروسته ئې ناره پسی وکړه :

په مادی کړی په تادی وسی - زما زړګی دی توری او به کی - توری او به تر سخر ووزی غوغا به وکې - های های غوغا به وکې .

چه یعنی را ته معلوم شوې چه دښمن ئې - که خدای در ایله کړم بیا سره ګورو ... خدری غوږ پرونه نیو خورا خوشاله دی ، د کاروان سره را رهی شو - ظریف خان بیرته باچا ته راغی - باچا نوکران ورسره کړی دی پر باچا خورا ډېر ګران دی - خپل سیل و تماشا کوی ، منګر نه په پوری کیږی ، ظریف خان نو دالته پر ېږده خدری پسی راواخله .

خدری چه را رهی شو هله هله مزل پر مزل د نکل کار دی دادی خپل وطن ته را ورسېدی ږغ شو چه د خدری قافله واغله - د مابی د مخه لادوې ستر ګی څلوروې دا ږغ چه ئې وارو ېد روح په ننووت - د کلا پر بام وختله لار ئې ګوری ، قافله رانژدې شوله ، ظریف خان نه معلومیږی ، د مابی د توانه ووتله ناره ئې وکړه :

ستر ګی می ووتې پر دغه لاری - ستر ګی می ووتې پر دغه لاری - ظریف ته ګورم کې راښکاره کې د ظریف وای داو ښو غاړی - های های داو ښو غاړی .

---

(۱) څوك وایی چه د ظریف خان د بند سبب داوو چه خدری د حکومت یو جام غلا کی - چه را رهی کیدی د ظریف په بار کښې ئې پټ چخ کی بیائی ریوټ وکی ، چه ظریف خان غلا کړیده په بار کښې ئې ده - په هغه وخت کښې دا قانون و چه چا به شی غلا کی غل به د مال والا مریی وه ، نو ځکه بی ظریف خان بندی کی .

قافله‌ښه نژدې شوله تېرېږي ظريف نسته مابۍ بيانارە پرو کړه :

کاروان باشي ئې دکاروان سردار ئې دکاروان پرلمبړ ولاړ ئې - خلك پوښتنه دسو دو زيان کی زه خو پوښتنه دظريف خان کم- های های دظريف خان کم .

دخدری دبيری چاجواب ورنه کې- په دې قافله کښې دظريف خان مريې وو، مابۍ پرده ناره وکړه :

که خپله خپله سړيه خپله- احوال ئې را که ظريف مې څه شو؟ دچادسو به دچاده سلمه- های های دچاده سلمه .

چه يعنی که پخپله په خبر ئې هم حال راته ووايه، او که دبل دخولې په خبر ئې هم حال را که؟- مريې ناره پرو کړه :

که خپل يم خپل يم سړی دی خپل يم - زه چه راتلمه ظريف ژوندی و، احوال بې در کم دخپله سلمه- های های دخپله سلمه

داچه خدری وارويد له- دمريې سرئې غوټ په توره پرې کی- ساون نوماند دظريف خان بل مريې وو ،

مابۍ پردغه ساون ناره وکړه :

که توره توره ساونه توره ،ما په خدای ولو باتلې ظريف ژوندی و، که و، په گوره- های های که وپه گوره.

ساون فکر وکی، چه هغه بل مريې رشتيا ورته وويل سرئې ورپرې کی، نوما به هم مړ کی که رشتيا ووايم

نو يې په جواب کی پرمابۍ ناره وکړه :

نه دکاروان سريم- نه دکاروان پای يم- تا په خدای کړم بزه گاره مابۍ خوری مخ دی پټ په مرغلرو خدری

باچاشو - های های خدری باچاشو. چه يعنی زه لاغرضه يم په کاروان هيڅ غرض نه لرم منگر خدری خان شو

مابۍ پرساون ناره وکړه :

که توره توره ساونه توره- راغلی مه وای دهند دلوره، اول می هيله امينډ پرخدای واوس راوخته دهره

لوره- بيا ئې پرخدری ناره وکړه:

که توره توره خدريه توره- راغلی مه وای دسند دلوره- ښايسته ظريف دی څه کی- چه درسره وو دخپله کوره

های های دخپله کوره- خدری په جواب کی ناره پرو کړه کاروان باشی يم - دکاروان سر داريم - دکاروان

پرلمبړ ولاړ يم- ظريف می مړشو دنس په خوږ وپه دواړه لاسومی کی دسنگو باره زه ځنی راغلم.

چه يعنی ما به دغولا سوښخ کې کانی می پرواچول دنس په خوږ ومړشو . مابۍ چه داوار وېدله - زړه ئې

در دو کې پرخدری ئې ناره وکړه:

سردی گنجی دی -نوم دی خدری دی- راغلی مه وای دهندله لوره- اول می هيله امينډ پر خدای وه

اوس دی را وايسته دهره لوره .

خدری په سر يك او په رنگ تك تورو ، دخپل کاروان په اړ ولو بخت شو دظريف خان يو بل

سړی و ، فکر ئې وکی چه دا خو مينه ده زهره بی و چوی په يوه ترڅ کښې ئې ناره پرمابۍ وکړه :

که پير کی پير کی خدری پيری کی دروغ می ښه که- رشتيا می پرېږدی

ما به رشتيا خبری وکړای ، خدری ظالم دی -سر به می پرې کی .

لنډه داچه مابۍ هرڅونه چه بې ژړلی وی ژړلی به ئې وی ، منگر په دغه ناره ئې لږ څه زړه ډاډه شو- ويل

توکل پرخدای دی ، گوندی ژوندی وی ، او ژوندی دی نو گوره چه خدری ظالم په څه ټکه کښېيستلی دی .

خدری کاروان واړاوه- خورا خوشاله دی ساون ئې را وغوښت آفرين ئې ور کی

ورته وی ويل :

هوښ کوه چه ترخو له دی ونه وزی بی بی تاته درکوم- اوس نو خدری ته دکور سر خالی شو —

دظريف خان پر ميراث کښېنو ست ، چه دغه مال مال ئې سره گوښه کی نو ئې حکم وکې چه که دهندله

پټه خزانه

داکتاب دپښتو دشعراوتذکره، اوددې ژبې مهمه تاریخی وثیقه ده
دکتاب پښتو متن اوپارسی ترجمه ددېرو حواشی او تعلیقاتو سره
چاپ شوی دی ، (۲۹۰) مخه لری اومصور دی، متعدد فهرستو نه
اودلغاتو او کلماتو او تاریخی مطالبو تحلیل هم لری ، د مطبوعاتو
دریاست اه پانوځی څخه ئې رانیسی، اودمخه تردې چه تمام شی، پخپله
کتابخانه کښې داکتاب وساتی.

ملي سندری

داکتاب په تقریباً (۲۰۰) مخکښې نوی چاپ شوی دی ، ملی
لندی ، داتن ناري او دبابو لالی سندري او مفصله مقدمه لری .
څونوی تمام شوې له پانوځی څخه واخلی

ملی هنداره

(دوهم توک)

دکابل دمجلې په پای کښې له هره ګڼې سره څلور مخه نشر کیږی ،
تاسی دغه شمارې وساتی، نو په پای کښې به دملی هنداری ددوهم توک
خاوندان شی

КГ